# د عیسی مسیح په هکله د مرقوس انجیل

## د کتاب پېژندنه

دا انجیل د روح القدس څخه په الهام اخیستلو سره د مرقوس په نوم د یو کس له خوا د ۵۵ څخه د ۶۵ میلادي کلونو ترمنځ لیکل شوی دی. کله چې عیسی په دې نړۍ کې ؤ، هغه هرځای ته تللو او دا خبر به یې ورکاوه چې د خدای پاچاهي نړۍ ته د هغه په راتللو سره راغلې ده. په هغه وخت کې مرقوس نوی ځوان شوی ؤ. مرقوس د پطروس سره چې د عیسی د شاګردانو څخه ؤ، آشنا شو. وروسته له دې چې عیسی مسیح بېرته اسمان ته وخوت، مرقوس د خلاصون د هغه زېري په رسولو کې چې د عیسی مسیح له خوا ؤ، د پطروس سره همکار شو.

مرقوس د عیسی کیسه په ساده او په زړه پورې توګه بیانوي او په هغو کارونو باندې ټینګار کوي چې عیسی سرته رسولي وو. هغه د تعمید ورکوونکي یحیی د پیغام په هکله د یوې لنډې مقدمې نه وروسته د تعمید او د عیسی د وسوسو په هکله خبرې کوي. وروسته له دې چې عیسی شاګردانو ته بلنه ورکړه چې په هغه پسې روان شي، هغوی ولیدل چې عیسی معجزې ښایي، پېریان وباسي، د خلکو ګناهونه بخښي او په پوره واک او اختیار سره تعلیم ورکوي. خو هغوی د هغه د مړینې او بیا راژوندي کېدلو تر وخته د هغه په مقصد پوه نه شول. له بلې خوا د عیسی مخالفینو د هغه سره خپله دښمني نوره هم زیاته کړه. په پای کې مرقوس د عیسی د دنیاوي ژوند د وروستۍ هفتې پېښې او په صلیب باندې د هغه د مړینې او د مړو نه بیا راژوندي کېدل بیانوي.

مرقوس په دې انجیل کې مونږ ته ښایي چې عیسی خپل ځان ته د «انسان زوی» وایي. په بل

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

عبارت هغه ځوک چې په ځمکه او اسمان باندې د خدای د واک او اختیار استازیتوب کوي. دا هغه ځوک دی چې خپل ژوند به له لاسه ورکوي، ترڅو خلک د ګناهونو څخه خلاص کړي. هغه خپل قدرت او واک او اختیار د پېریانو په ویستلو، د ګناهونو په بخښلو او ناروغانو ته په شفا ورکولو سره ښکاره کوي. هغه دا تعلیم هم ورکوي چې هرڅوک چې د هغه شاګرد شي، نو هغه به د ځورونو او کړاوونو سره مخ کیږي، لکه څنګه چې هغه خپله باید کړاوونه وزغمي او مړ شي. خو بیاهم په پای کې جلال او تلپاتې ژوندون د عیسی په پیروۍ کې دی.

همدارنګه د مرقوس په انجیل کې خدای عیسی ته خپل ګران زوی وایي، البته د جسماني اړیکو په خاطر نه بلکې په دې خاطر چې هغه کټ مټ هماغه فطرت درلود کوم چې خدای یې لري. نو له دې امله عیسی هغه ته «پلار» ویل. د عیسی دغه لقبونه یعنې د «انسان زوی» او د «خدای زوی» د عیسی دوه خصلتونه یا ذات څرګندوي چې هغه هم انسان دی او هم الهي ذات دی.

## د موضوعګانو لست:

د انجیل شروع: ۱: ۱أ– ۱۳
په جلیل کې د عیسی خدمتونه: ۱: ۱۴– ۹: ۵۰
له جلیل څخه تر اورشلیمه: ۱۰ فصل
په اورشلیم او شاوخوا سیمو کې د عیسی د ژوند وروستنۍ هفته: ۱۱ – ۱۵ فصلونه
د عیسی بیا راژوندي کېدل، ښکاره کېدل او اسمان ته ختل: ۱۶ فصل

۱ (۱) دا د خدای د زوی عیسی مسیح د زېري پیل دی. (۲) هغه داسې پیل شو لکه څنګه چې
د اشعیا نبي په کتاب کې لیکل شوي دي: «ګوره، زه به خپل استازی ستا څخه مخکې ولېږم چې ستا
دپاره لاره تیاره کړي. (۳) یو څوک په دښته کې نارې وهي: ‹د څښتن دپاره لاره تیاره کړئ، او د
هغه دپاره لاره سمه کړئ.›»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د تعمید غسل ورکوونکي یحیی وعظ

(متي ۳: ۱– ۱۲ او لوقا ۳: ۱– ۱۸ او یوحنا ۱: ۱۹– ۲۸)

۴ د تعمید غسل ورکوونکی یحیی په دښته کې راښکاره شو او وعظ یې کاوه چې خلک باید د
خپلو ګناهونو د بخښنې په خاطر توبه وباسي او د تعمید غسل واخلي. ۵ د ټولې یهودیې خلک
او د اورشلیم ټول اوسېدونکي یحیی ته راتلل. هغوی په خپلو ګناهونو باندې اقرار کاوه او د اردن په
سیند کې یې د هغه په لاس د تعمید غسل اخیسته. ۶ یحیی داسې کالي اغوستل چې د اوښ د
وړیو څخه جوړ شوي وو او د څرمنې کمربند به یې له ملا تړلو او ملخان او ځنګلي شات به یې
خوړل. ۷ هغه اعلان کاوه او ویل به یې: «زما څخه وروسته چې کوم څوک راروان دی، هغه زما
څخه ډېر زورور دی، زه د دې لایق هم نه یم چې ټیټ شم او د هغه د څپلیو تسمې خلاصې کړم.
۸ زه تاسو ته په اوبو باندې د تعمید غسل درکوم خو هغه به درته په روح القدس د تعمید غسل
درکړي.»

## د عیسی د تعمید غسل او ازمایښت

(متي ۳: ۱۳ – ۱۴، ۴: ۱۱ او لوقا ۳: ۲۱– ۲۲، ۴: ۱– ۱۳)

۹ داسې وشول چې په هماغو ورځو کې عیسی د جلیل د ولایت د ناصرې د ښار څخه راغی او
د اردن په سیند کې یې د یحیی په لاس د تعمید غسل واخیست. ۱۰ کله چې عیسی د اوبو څخه
راووت نو ویې لیدل چې ناڅاپه اسمان سوری شو او روح القدس د کوترې په شکل په هغه باندې
رانازل شو ۱۱ او له اسمان نه یو اواز راغی چې ویل یې: «ته زما ګران زوی یې، زه ستا څخه
خوشحاله یم.» ۱۲ سمدلاسه روح القدس هغه دښتې ته په تللو مجبور کړ. ۱۳ هغه څلوېښت
ورځې په دښته کې ؤ او شیطان د هغه ازمایښت کاوه. عیسی په هغه ځای کې ؤ چېرته چې ځنګلي
ځناور وو او فرښتو د هغه خدمت کاوه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی څلورو ماهي نیوونکو ته بلنه ورکوي

(متي ۴: ۱۲ – ۲۲ او لوقا ۴: ۱۴ – ۱۵، ۵: ۱ – ۱۱)

۱۴ کله چې یحیی په زندان کې واچول شو نو عیسی جلیل ته لاړ او هلته یې د خدای زیری
اعلاناوه ۱۵ او ویل یې: «اوس هغه وخت رارسېدلی دی او د خدای پاچاهي رانژدې شوې ده.
توبه وباسئ او په زیري باندې ایمان راوړئ.»

۱۶ کله چې عیسی د جلیل د دریاب په غاړه ګرځېده نو شمعون او د هغه ورور اندریاس یې
ولیدل. هغوی په دریاب کې جال اچاوه، ځکه چې هغوی ماهي نیوونکي وو. ۱۷ عیسی هغوی ته
وویل: «ما پسې راځئ او زه به تاسو ته وښایم چې څنګه د ماهیانو په ځای انسانان ونیسئ.» ۱۸
هغوی سمدلاسه خپل جالونه پرېښودل او هغه پسې روان شول. ۱۹ کله چې عیسی لږ وړاندې لاړ
نو هغه د زبدي زوی یعقوب او د هغه ورور یوحنا ولیدل چې په کشتۍ کې ناست وو او خپل جالونه
یې تیارول. ۲۰ عیسی سمدلاسه هغوی ته نارې کړې او هغوی خپل پلار زبدي د مزدورانو سره
په کشتۍ کې پرېښود او عیسی پسې روان شول.

## عیسی د یو سړي څخه پېریان وباسي

(لوقا ۴: ۳۱ – ۳۷)

۲۱ عیسی او شاګردان یې کپرناحوم ته لاړل او کله چې د سبت ورځ راورسېدله نو عیسی کنیسې
ته ننوت او هلته یې تعلیم ورکول پیل کړ. ۲۲ خلک د عیسی په تعلیم حیران شول، ځکه چې هغه
د شریعت د عالمانو په شان نه بلکې په پوره اختیار سره هغوی ته تعلیم ورکاوه.

۲۳ ناڅاپه په کنیسه کې یو سړي چې پېریانو نیولی ؤ، په لوړ اواز چیغې ووهلې: ۲۴ «ای
عیسی ناصري، زمونږ سره څه کار لرې؟ ته راغلی یې چې مونږ تباه کړې؟ زه دې پېژنم چې ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

څوک يې، ته د خدای سپېڅلی يې.» ۲۵ عيسی پېري ته امر وکړ: «غلی شه او د دې سړي څخه
راووځه.» ۲۶ پېري هغه سړي ته سخت ټکان ورکړ او په چيغو چيغو د هغه څخه راووت. ۲۷
ټول خلک دومره حيران شول چې يو له بله يې پوښتنه کوله: «دا څه دي؟ دا خو يو نوی تعليم دی.
هغه په پوره اختيار سره پېريانو ته امر کوي او هغوی يې مني.» ۲۸ ډېر زر هغه د جليل په ټوله
سيمه کې مشهور شو.

## عيسی ډېرو خلکو ته شفا ورکوي

(متي ۸: ۱۴ – ۱۷ او لوقا ۴: ۳۸ – ۴۱)

۲۹ بيا عيسی د کنيسې څخه روان شو او د يعقوب او يوحنا سره يوځای د شمعون او اندرياس
کور ته لاړل. ۳۰ د شمعون خواښې تبې نيولې وه او په کټ کې پرته وه. څنګه چې عيسی هلته
ورسېده نو هغوی ورته سمدلاسه د هغې په هکله وويل. ۳۱ عيسی ورغی، هغه يې له لاسه ونيوله
او مرسته يې ورسره وکړه چې راپورته شي. نو هغه ښځه تبې پرېښودله او د هغوی خدمت يې
شروع کړ.

۳۲ کله چې لمر پرېوت او ماښام شو نو خلکو خپل ټول ناروغان او هغه خلک چې پېريانو نيولي
وو هغه ته راوستل. ۳۳ د ښار ټول خلک د هغه کور مخې ته راټول شول. ۳۴ عيسی ډېر
ناروغان چې په ډول ډول ناروغيو اخته وو روغ کړل او ډېر پېريان يې وويستل. عيسی پېريان خبرو
ته پرېنښودل، ځکه چې هغوی پوهېدل چې هغه څوک دی.

## عيسی په جليل کې وعظ کوي

(لوقا ۴: ۴۲ – ۴۴)

۳۵ سهار وختي چې لا تياره وه، عيسی له خوبه راپاڅېد، د کور نه ووت او يو ګوښه ځای ته لاړ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او هلته یې دعا کوله. ۳۶ نو شمعون او د هغه ملګري لاړل چې هغه ولټوي، ۳۷ او چې کله یې
هغه پیدا کړ نو ورته ویې ویل: «ټول خلک تا لټوي.» ۳۸ عیسی هغوی ته وویل: «راځئ چې
شاوخوا کلیو ته لاړ شو ترڅو هلته هم خپل پیغام ورسوم، ځکه چې زه د همدې کار دپاره راغلی
یم.» ۳۹ عیسی په ټول جلیل کې ګرځېده، د هغوی په کنیسو کې یې وعظ کاوه او پېریان یې
ویستل.

## عیسی یو جذامي ته شفا ورکوي

(متي ۸: ۱ أ – ۴ او لوقا ۵: ۱۲ أ – ۱۶)

۴۰ یو سړی چې د جذام په ناروغۍ اخته ؤ، عیسی ته راغی، د هغه په مخکې په ګونډو شو او
زاري یې ورته وکړه: «که چېرې ته وغواړې نو کولای شې چې ما پاک او روغ کړې.» ۴۱ د
عیسی زړه ورباندې وسوځېد، خپل لاس یې وراوږد کړ، په هغه باندې یې کېښود او ورته ویې ویل:
«هو، زه غواړم، پاک او روغ شه.» ۴۲ نو سمدلاسه د هغه ؤخخه د جذام ناروغي لېرې شوه او هغه
پاک شو. ۴۳ بیا عیسی هغه زر رخصت کړ او سخت خبرداری یې ورکړ ۴۴ او ورته ویې ویل:
«ګوره، په دې هکله هېچا ته څه ونه وایې، خو لاړ شه او خپل ځان کاهن ته وروښایه او کومه
قرباني چې موسی یې حکم کړی دی وړاندې کړه، د دې دپاره چې خلکو ته ثابته شي چې ته پاک
او روغ شوی یې.» ۴۵ خو هغه سړی ووت او څه چې شوي وو ټول خلک یې پرې خبر کړل. له
دې امله عیسی نور نه شو کولای چې په ښکاره کوم ښار ته ننوځي، بلکې د ښار نه دباندې په
ګوښه ځایونو کې به پاتې کېده، خو بیاهم خلک به له هرځای څخه ورته راتلل.

## عیسی شل سړي ته بخښنه او شفا ورکوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۹: ۱آ – ۹ او لوقا ۵: ۱۷آ – ۲۶)

۲ ۱ څو ورځې وروسته کله چې عیسی بېرته کپرناحوم ته لاړ نو خلک خبر شول چې هغه په
کور کې دی. ۲ هلته دومره زیات خلک راټول شول چې نور ځای نه ؤ، تر دې چې د کور د
دروازې مخې ته هم ځای پاتې نه شو او عیسی هغوی ته د خدای د کلام وعظ کاوه. ۳ په دې
وخت کې څلورو کسانو یو شل سړی نیولی ؤ او عیسی ته یې راوست. ۴ خو د ګڼې ګوڼې له
امله یې ونه شو کولای چې عیسی ته ورنژدې شي نو هغوی د هغې کوټې چت چې عیسی په کې ؤ،
سوری کړ او د هغه سوري له لارې یې هغه شل سړی په بستره کې ورښکته کړ. ۵ کله چې
عیسی د هغوی ایمان ولید، نو هغه شل سړي ته یې وویل: «زویه، ستا ګناهونه وبخښل شول.» ۶
په هغه ځای کې د شریعت یو څو عالمان ناست وو، هغوی د خپل ځان سره وویل: ۷ «دا سړی
ولې داسې خبرې کوي؟ هغه کفر وایي. ایا بې له خدایه څوک کولای شي چې ګناهونه وبخښي؟»
۸ عیسی سمدلاسه پوه شو چې د هغوی په زړه کې څه دي. نو هغوی ته یې وویل: «تاسو ولې
په خپلو زړونو کې داسې فکرونه کوئ؟ ۹ کومه خبره اسانه ده چې دې شل سړي ته ووایم: ‹ستا
ګناهونه وبخښل شول› یا دا چې ووایم: ‹پاڅېږه او خپله بستره واخله او وګرځه؟› ۱۰ خو زه به
تاسو ته ثابته کړم چې د انسان زوی د ځمکې په مخ دا اختیار لري چې ګناهونه وبخښي.» نو هغه
شل سړي ته یې وویل: ۱۱ «زه تاته وایم پاڅېږه، بستره دې واخله او کور ته لاړ شه.» ۱۲ هغه
پاڅېد او په داسې حال کې چې ټولو ورته کتل، ژر یې خپله بستره واخیسته او روان شو. نو هغوی
ټول حیران شول او د خدای ثنا یې وویله. هغوی وویل: «داسې کار مونږ هېڅکله نه ؤ لیدلی.»

## عیسی یو مالیه ټولوونکي ته بلنه ورکوي

(متي ۹: ۹آ – ۱۳ او لوقا ۵: ۲۷آ – ۳۲)

۱۳ عیسی یوځل بیا د دریاب غاړې ته لاړ، ګڼ شمېر خلک ورته راغلل او هغه ورته تعلیم

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکول پیل کړ. ۱۴ کله چې هغه په لاره روان ؤ نو د حلفي زوی لاوي یې ولید چې د مالیې
ټولولو په ځای کې ناست ؤ. عیسی هغه ته وویل: «ما پسې راځه.» نو لاوي راپاڅېد او په هغه پسې
روان شو.

۱۵ بیا عیسی د لاوي په کور کې مېلمه شو. ډېر مالیه ټولوونکي او نور ګناهکاران چې د عیسی
پیروان شوي وو هم د عیسی او د هغه د شاګردانو سره دسترخوان ته ناست وو. ۱۶ کله چې د
شریعت ځینو عالمانو چې د فریسیانو د ډلې څخه وو ولیدل چې عیسی د مالیه ټولوونکو او نورو
ګناهکارانو سره ډوډۍ خوري نو د هغه شاګردانو ته یې وویل: «هغه ولې د مالیه ټولوونکو او
ګناهکارانو سره ډوډۍ خوري؟» ۱۷ عیسی دا خبره واورېدله او هغوی ته یې وویل: «روغ خلک
ډاکتر ته اړتیا نه لري بلکې ناروغان ورته اړتیا لري. زه د دې دپاره نه یم راغلی چې پرهېزګاران
راوبولم، بلکې ګناهکاران راوبولم.»

## د روژې په هکله پوښتنه

(متي ۹: ۱۴ – ۱۷ او لوقا ۵: ۳۳ – ۳۹)

۱۸ په یو وخت کې چې د یحیی شاګردانو او فریسیانو روژه نیولې وه، نو ځینې خلک عیسی ته
راغلل او د هغه څخه یې پوښتنه وکړه: «ولې د یحیی شاګردان او د فریسیانو شاګردان روژه نیسي
خو ستا شاګردان روژه نه نیسي؟» ۱۹ عیسی ورته وویل: «ایا دا کېدای شي چې د زوم ملګري
دې په داسې حال کې چې زوم ورسره وي روژه ونیسي؟ بې له شکه چې نه، ترڅو پورې چې زوم
د هغوی سره وي، هغوی نه شي کولای چې روژه ونیسي. ۲۰ خو داسې وخت به راشي چې زوم
به د هغوی څخه بوتلل شي نو په هغه وخت کې به هغوی روژه ونیسي. ۲۱ هېڅوک په زړو کالیو
باندې نوی پیوند نه لګوي. که داسې وکړي نو هغه پیوند به د زړو کالیو څخه راوشلېږي او له مخکې
څخه به یو لوی سوری په کې جوړ شي. ۲۲ هېڅوک تازه شراب په زړو مشکونو کې نه اچوي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

که چېرې داسې وکړي نو شراب به هغه مشکونه وشلوي او شراب او مشکونه دواړه به له منځه لاړ
شي. باید تازه شراب په نویو مشکونو کې واچول شي.»

## د سبت د ورځې په هکله پوښتنه

(متي ۱۲: ۱– ۸ او لوقا ۶: ۱– ۵)

۲۳ د سبت په یوه ورځ عیسی د غنمو په پټیو باندې تېرېده نو شاګردانو یې د غنمو د وږو په
شکولو شروع وکړه. ۲۴ فریسیانو هغه ته وویل: «ګوره، ستا شاګردان ولې داسې کار کوي چې د
سبت په ورځ روا نه دی؟» ۲۵ عیسی ځواب ورکړ: «ایا تاسو دا نه دي لوستلي کله چې داود او د
هغه ملګري وږي شوي وو او د خوراک دپاره ورسره څه نه وو، نو هغه څه وکړل؟ ۲۶ هغه څنګه
د لوی کاهن ابیاتار په زمانه کې د خدای کور ته ورننوت او هغه سپېڅلې ډوډۍ یې چې پرته له
کاهنانو بل هېچا ته روا نه وه وخوړله او خپلو ملګرو ته یې هم ورکړه.» ۲۷ بیا عیسی هغوی ته
وویل: «د سبت ورځ د انسان دپاره پیدا شوې ده، نه انسان د سبت د ورځې دپاره. ۲۸ ځکه چې
د انسان زوی د سبت د ورځې خاوند هم دی.»

## عیسی د سبت په ورځ شفا ورکوي

(متي ۱۲: ۹– ۱۴ او لوقا ۶: ۶– ۱۱)

۳ ۱ عیسی یوځل بیا کنیسې ته لاړ او هلته یو سړی و چې لاس یې وچ شوی و. ۲ ځینو
خلکو هڅه کوله ترڅو یو دلیل پیدا کړي چې په عیسی تور ولګوي، نو هغوی دې ته کتل چې هغه
د سبت په ورځ هغه سړي ته شفا ورکوي او که نه. ۳ نو عیسی هغه سړي ته چې لاس یې وچ
شوی و، وویل: «راپاڅېږه او د ټولو په مخکې ودرېږه.» ۴ بیا هغه د خلکو څخه پوښتنه وکړه:
«د سبت په ورځ نېکي کول روا دي که بدي کول؟ د چا د ژوند ژغورل روا دي که له منځه وړل؟»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خو هغوی غلي پاتې شول. ۵ عیسی په قهر سره هغوی ته وکتل او د هغوی په حال یې افسوس
وکړ، ځکه چې زړونه یې سخت وو. بیا یې هغه سړي ته وویل: «خپل لاس وغزوه.» هغه لاس
وغزاوه او لاس یې روغ شو. ۶ بیا فریسیان د کنیسې څخه ووتل او سمدلاسه یې د هیرودیس د
طرفدارانو سره یوه لاره جوړه کړي چې عیسی څنګه ووژني.

## عیسی ته د شفا دپاره د ډېرو خلکو راتګ

۷ عیسی د خپلو شاګردانو سره د دریاب غاړې ته لاړ او زیات شمېر خلک ورپسې روان وو.
هغوی د جلیل، یهودیې، ۸ اورشلیم، ادومیې، د اردن د سیند د بلې غاړې له سیمو او د صور او
صیدون له شاوخوا سیمو څخه راغلي وو. دا ټول خلک ځکه عیسی ته راغلل چې د هغه د کارونو
څخه خبر شوي وو. ۹ د خلکو د زیاتې ګڼې ګوڼې له امله عیسی خپلو شاګردانو ته وویل چې
هغه ته کشتۍ تیاره کړي ترڅو خلک ورباندې زور رانه وړي. ۱۰ ځکه چې هغه دومره ډېر
ناروغان روغ کړي وو چې یو بل یې ټېله کول ترڅو هغه ته لاس ورووړي. ۱۱ کله چې به پېریانو
عیسی ولید نو په پښو کې به یې پرېوتل او چیغې به یې وهلې: «ته د خدای زوی یې.» ۱۲ خو
عیسی پېریانو ته په کلکه حکم کاوه چې هېچا ته ونه وایي چې هغه څوک دی.

## عیسی دولس رسولان ټاکي

(متي ۱۰: ۱ – ۴ او لوقا ۶: ۱۲ – ۱۶)

۱۳ بیا عیسی غره ته لاړ او کوم کسان یې چې خوښ کړي وو هغه یې راوغوښتل او هغوی ورته
راغلل. ۱۴ عیسی دولس تنه وټاکل او هغوی یې د رسولانو په نوم یاد کړل چې د هغه سره به
اوسي او هغوی به ولېږل شي چې وعظ وکړي ۱۵ او دا واک او اختیار به ولري چې پېریان
وباسي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۶ هغه دا دولس تنه وټاکل: شمعون چې عیسی ورباندې پطروس نوم کېښود، ۱۷ د زبدي زوی
یعقوب او د هغه ورور یوحنا چې په هغوی باندې «بوانیرګس» یعنې «د تندر زامن» نوم کېښود،
۱۸ او اندریاس، فیلیپوس، بارتولما، متي، توما، د حلفي زوی یعقوب، تدي، شمعون سرتېری، ۱۹
او یهودا اسخریوتي چې د عیسی سره یې خیانت وکړ.

## عیسی او بعلزبول یعنې شیطان

(متي ۱۲: ۲۲أ– ۳۲ او لوقا ۱۱: ۱۴أ– ۲۳، ۱۲: ۱۰)

۲۰ وروسته عیسی خپل کور ته ننوت او یوځل بیا دومره زیات خلک راټول شول چې عیسی او
شاګردانو یې د ډوډۍ خوړلو وخت هم نه درلود. ۲۱ کله چې د عیسی خپلوان خبر شول نو هغوی
لاړل چې هغه د ځان سره بوځي، ځکه چې دوی ویل چې هغه لېونی شوی دی.

۲۲ د شریعت کوم عالمان چې د اورشلیم څخه راغلي وو، ویل یې: «هغه د بعلزبول یعنې د
پېریانو د مشر چې شیطان دی، په مرسته پېریان وباسي.» ۲۳ نو عیسی خلک راوغوښتل او په
مثالونو کې یې ورسره خبرې وکړې او ویې ویل: «شیطان څنګه شیطان ویستلی شي؟ ۲۴ که په
یوه پاچاهۍ کې بې اتفاقي راپیدا شي نو هغه پاچاهي نه شي پاتې کېدلی. ۲۵ که په یوه کورنۍ کې
بې اتفاقي راپیدا شي نو هغه کورنۍ نوره نه شي پاتې کېدلی. ۲۶ که چېرې شیطان د خپل ځان په
خلاف راپورته شي او د ځان سره بې اتفاقه شي، نو هغه نه شي پاتې کېدلی او قدرت یې له منځه
ځي. ۲۷ همدارنګه هېڅوک نه شي کولای چې د یو زورور سړي کور ته ورننوځي او د هغه د
کور سامان لوټ کړي، ترڅو چې لومړی هغه سړی وتړي او بیا یې کور لوټ کړي.

۲۸ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې د انسان هر ډول ګناه او حتی هر کفر یې چې ویلی وي
هغه به وبخښل شي، ۲۹ خو څوک چې د روح القدس په خلاف کفر ووایي هغه به هېڅکله ونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بخښل شي، بلکې د هغې ګناه به تل ترتله د هغه په غاړه وي.» ۳۰ عیسی ځکه دا خبره وکړه چې
هغوی ویل: «هغه پېریانو نیولی دی.»

## د عیسی مور او ورونه

(متي ۱۲: ۴۶ – ۵۰ او لوقا ۸: ۱۹ – ۲۱)

۳۱ بیا د عیسی مور او ورونه راغلل او د کور څخه دباندې ولاړ وو. هغوی یو څوک ورولېږه چې
هغه ته غږ وکړي. ۳۲ په دې وخت کې ګڼ شمېر خلک چې د عیسی چارچاپېره ناست وو، هغه
ته وویل: «ستا مور او ورونه دباندې ولاړ دي او غواړي چې تا وویني.»

۳۳ عیسی په ځواب کې وویل: «زما مور څوک ده او زما ورونه څوک دي؟» ۳۴ عیسی هغو
خلکو ته چې د هغه چارچاپېره ناست وو وکتل او ویې ویل: «زما مور او زما ورونه دا دي. ۳۵
څوک چې د خدای د ارادې سره سم کار کوي هغه زما ورور، زما خور او زما مور ده.»

## د دهقان مثال

(متي ۱۳: ۱ – ۹ او لوقا ۸: ۴ – ۸)

۴ ۱ عیسی یوځل بیا د دریاب په غاړه تعلیم ورکول پیل کړل. او دومره زیات خلک ورته
راټول شوي وو چې هغه ترې کشتۍ ته وخوت او هلته کښېناست او ټول خلک د دریاب په غاړه
ولاړ وو. ۲ هغه هغوی ته په مثالونو کې ډېر شیان ورزده کول. کله چې هغه تعلیم ورکاوه نو
هغوی ته یې وویل: ۳ «واورئ، په یو وخت کې یو دهقان د تخم شیندلو دپاره خپل پټي ته لاړ.
۴ کله چې هغه تخم شینده نو یو څه تخم په لاره کې ولوېد. بیا مرغان راغلل او هغه یې وخوړ.
۵ څه تخم په داسې ځمکه کې ولوېد چې تېږې یې لرلې نو هغه تخم زر راشین شو، ځکه چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خاوره يې کمه وه. ۶ خو کله چې لمر راوخوت نو هغه بوټي وسوځېدل او وچ شول، ځکه چې
ريښې يې ژورې نه وې. ۷ څه تخم په اغزو کې ولوېد او کله چې اغزي لوی شول نو بوټي يې
لاندې کړل او حاصل يې ورنه کړ. ۸ نور تخم په حاصلخيزه خاوره کې ولوېد او هغه راشين شو،
لوی شو، حاصل يې ورکړ او دېرش چنده، شپېته چنده او سل چنده حاصل يې ورکړ.»

۹ بيا عيسی وويل: «که څوک غوږونه لري نو هغه دې واوري.»

## د مثالونو مقصد

(متي ۱۳: ۱۰أ– ۱۷ او لوقا ۸: ۹أ– ۱۰)

۱۰ کله چې عيسی يوازې شو نو دولسو شاګردانو او نورو خلکو چې ورسره ملګري وو د هغه
څخه پوښتنه وکړه چې د دې مثالونو مقصد څه دی. ۱۱ عيسی ځواب ورکړ: «تاسو ته د خدای د
پاچاهۍ پټ راز درکړل شوی دی، خو نورو ته هرڅه په مثالونو کې ويل کيږي، ۱۲ ترڅو: هغوی
به تل ګوري خو څه به نهويني، تل به اوري خو هېڅکله به پرې نه پوهيږي، ځکه که چېرې هغوی
اورېدلی او ليدلی نو د خدای خواته به راګرځېدلي وای او بخښل شوي به وای.»

## د دهقان د مثال تشريح

(متي ۱۳: ۱۸أ– ۲۳ او لوقا ۸: ۱۱أ– ۱۵)

۱۳ بيا عيسی هغوی ته وويل: «تاسو چې په دې مثال نه پوهيږئ، نو په نورو مثالونو به څنګه پوه
شئ؟ ۱۴ دهقان د خدای کلام خپروي. ۱۵ ځينې خلک د هغه تخم په شان دي چې په لاره کې
لوېږي، څنګه چې کلام واوري نو شيطان سمدلاسه راشي او کوم کلام چې د هغوی په زړونو کې
کرل شوی دی هغه ترې يوسي. ۱۶ ځينې خلک د هغه تخم په شان دي چې په هغه ځمکه کې
کرل شوي چې تيږې لري، څنګه چې هغوی کلام واوري نو په خوشحالۍ سره يې مني. ۱۷ خو له

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دې امله چې کلام په هغوی کې ريښې نه وي نيولې نو هغه د زيات وخت دپاره نه پاتې کيږي. نو
کله چې د کلام له امله په هغوی باندې سختي راشي او يا وځوريږي، نو زر خپل ايمان له لاسه
ورکړي. ١٨ نور خلک د هغه تخم په شان دي چې په اغزو کې کرل شوی وي. دا هغه خلک دي
چې کلام اوري، ١٩ خو کله چې د ژوند انديښنې، د شتمنۍ سره مينه او د نورو شيانو غوښتنې
راپيدا شي نو د کلام مخه نيسي او حاصل نه ورکوي. ٢٠ نور خلک د هغه تخم په شان دي چې
په ښې خاورې کې لوېدلي وي، هغوی کلام واوري او قبول يې کړي او هغوی ديرش چنده يا شپېته
چنده يا سل چنده حاصل ورکوي.»

## د څراغ مثال

(لوقا ٨: ١٦أ– ١٨)

٢١ بيا عيسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «ايا تاسو څراغ د دې دپاره راوړئ چې هغه د کوم
لوښي او يا يې د کټ لاندې کېږدئ؟ ايا هغه په څراغدان باندې نه ږدئ؟ ٢٢ ځکه داسې پټ شی
نشته چې ښکاره نه شي او نه داسې پټ راز شته چې ښکاره به نه شي. ٢٣ که څوک غوږونه لري
نو هغه دې واوري.» ٢٤ بيا يې هغوی ته وويل: «څه چې اورئ نو د هغه په هکله پام کوئ.
څنګه چې تاسو يې اورئ، په هماغه اندازه زياته پوهه به درکړل شي او حتی د هغې نه زياته به
درکړل شي. ٢٥ ځکه څوک چې زما تعليم ته غوږ نيسي نو هغه ته به نوره پوهه هم ورکړل شي،
خو څوک چې ورته غوږ نه نيسي، نو هغه لږه پوهه چې لري هغه به هم ترې واخيستل شي.»

## د تخم د راشنه کېدلو مثال

٢٦ عيسی وويل: «د خدای پاچاهي داسې ده لکه چې يو دهقان په خپل پټي کې تخم وشيندي.
٢٧ هغه د شپې ويده وي او د ورځې ويښ وي، خو تخم شين کيږي او وده کوي او هغه پرې نه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پوهېږي چې دا تخم څنګه شين شو او لوی شو. ۲۸ ځمکه په خپله بوټي شنه کوي او حاصل
ورکوي، لومړی ډنډر نيسي، بيا وږی او بيا وږي داني نيسي. ۲۹ خو کله چې فصل پوخ شي نو
دهقان ورپسې لور راواخلي ځکه چې د فصل د رېبلو وخت رارسېدلی وي.»

## د شړشمو د تخم مثال

(متي ۱۳: ۳۱ – ۳۲ او لوقا ۱۳: ۱۸ – ۱۹)

۳۰ عيسی وويل: «د خدای پاچاهي د څه شي سره پرتله کولای شو او يا د هغه دپاره کوم مثال
ووايو؟ ۳۱ د خدای پاچاهي د شړشمو د تخم په شان ده چې په ځمکه کې کرل کيږي او د ځمکې
په مخ د ټولو تخمونو د دانو څخه ډېر وړوکی دی. ۳۲ خو کله چې وکرل شي، نو هغه غټيږي او د
ټولو بوټو څخه لوړ شي او څانګې يې دومره غټې شي چې مرغان کولای شي ځالې په کې جوړې
کړي.»

۳۳ عيسی به په داسې ډېرو مثالونو سره خلکو ته خپل پيغام رساوه، ترڅو هغوی وکولای شي
وريانډې پوه شي. ۳۴ هغه به د خلکو سره بې له مثالونو خبرې نه کولې، خو کله چې به د خپلو
شاګردانو سره يوازې ؤ نو هغوی ته به يې هرڅه تشريح کول.

## عيسی توفان ودروي

(متي ۸: ۲۳ – ۲۷ او لوقا ۸: ۲۲ – ۲۵)

۳۵ د هماغې ورځې په ماښام عيسی خپلو شاګردانو ته وويل: «راځئ چې د درياب بلې غاړې ته
لاړ شو.» ۳۶ نو هغوی خلک پرېښودل، شاګردانو عيسی په هماغې کشتۍ کې چې ناست ؤ د
ځان سره بوته. نورو خلکو هم کشتۍ ونيولې او د هغوی سره روان شول. ۳۷ ناڅاپه يو سخت
توفان راغی او څپو کشتۍ داسې ووهله چې نژدې وه ډوبه شي. ۳۸ په دې وخت کې عيسی د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کشتۍ په اخر کې خپل سر په بالښت باندې ایښی ؤ او ویده شوی ؤ. شاګردانو هغه راویښ کړ او
ورته ویې ویل: «استاذه! ستا سره زمونږ غم نشته، مونږ ډوبیږو؟» ۳۹ هغه راپاڅېد او باد ته یې
امر وکړ: «ارام شه.» او څپو ته یې وویل: «ودرېږئ.» نو باد ودرېده او کراره کراري شوه. ۴۰ بیا
عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: «تاسو ولې دومره وېرېږئ؟ ایا تاسو لا اوس هم ایمان نه لرئ؟»

۴۱ هغوی سخت وېرېدلي وو او یو بل ته یې وویل: «دا لا څوک دی چې باد او څپې یې هم امر
مني؟»

## عیسی یو پېریاني سړي ته شفا ورکوي

(متي ۸: ۲۸أ– ۳۴ او لوقا ۸: ۲۶أ– ۳۹)

**۵** ۱ عیسی او شاګردان یې د دریاب بلې غاړې ته د جدریان سیمې ته لاړل. ۲ کله چې
عیسی د کشتۍ څخه راښکته شو، نو هلته د یو پېریاني سړي سره چې د هدیرې څخه راوتلی ؤ،
مخامخ شو. ۳ هغه په هدیره کې اوسېده او هیچا نه شو کولای چې حتی هغه په زنځیرونو وتړي
او راایسار یې کړي. ۴ ځکه چې څو څو ځلې یې د هغه په پښو او لاسونو کې ځولنې او
زنځیرونه اچولي وو، خو هرځل یې زنځیرونه شلولي او ځولنې یې ماتې کړې وې او داسې قوي
سړی نه ؤ چې هغه یې ارام کړی وای. ۵ هغه به شپه او ورځ په قبرونو او غرونو کې ګرځېده او
تل به یې چیغې وهلې او خپل ځان به یې په تیږو زخمي کاوه. ۶ کله چې هغه عیسی د لېرې
څخه ولید نو منډه یې کړه او د هغه په پښو کې پرېوت ۷ او په لوړ اواز یې چیغې ووهلې: «ای
عیسی، ای د خدای تعالی زویه! زما سره څه کار لرې؟ د خدای په خاطر ما مه په عذابوه.» ۸ دا
ځکه چې عیسی هغه ته ویلي وو: «ای پېریه، د دې سړي څخه راووځه.» ۹ بیا عیسی د هغه
څخه پوښتنه وکړه: «ستا نوم څه دی؟» هغه ځواب ورکړ: «زما نوم لښکر دی، ځکه چې زمونږ

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شمېر زيات دی.» ١٠ هغه بيا عيسی ته ډېره زاري وکړه چې هغوی د هغې سيمې څخه ونه شړي.

١١ په دې وخت کې هلته د غونډۍ په لمنه کې د خوګانو يوه لويه رمه څرېدله. ١٢ نو پېريانو
عيسی ته زاري وکړه: «مونږ خوګانو ته ولېږه او اجازه راکړه چې په هغوی کې ورننوځو.» ١٣
عيسی هغوی ته اجازه ورکړه او پېريان د هغه سړي څخه ووتل او په خوګانو کې ورننوتل. ټوله رمه
چې شاوخوا دوه زره خوګان وو، په منډه له کمره څخه ښکته درياب ته ولوېدله او ډوبه شوه. ١۴
د خوګانو ساتونکي وتښتېدل او دا خبر يې د ښار او شاوخوا کليوالي سيمو خلکو ته ورساوه. خلک
د ښار څخه ووتل ترڅو څه چې پېښ شوي وو، ووينې. ١۵ کله چې هغوی عيسی ته راغلل او
هغه لېونی چې ډېر پېريان په کې وو، وليد چې کالي يې اغوستي وو او ذهن يې بېرته ښه شوی ؤ او
هلته ناست ؤ، نو هغوی ووېرېدل. ١۶ کومو خلکو چې دا پېښنه ليدلې وه او د هغه پېريانو نيولي
سړي او خوګانو سره چې څه شوي وو هغه يې نورو خلکو ته ووېل. ١٧ بيا هغو خلکو عيسی ته
زاری وکړلې چې د دوی د سيمې څخه لاړ شي. ١٨ کله چې عيسی کشتۍ ته ورختلو نو هغه
سړي چې مخکې پېريانو نيولی ؤ، عيسی ته زاري وکړه چې اجازه ورته ورکړي چې ورسره لاړ
شي. ١٩ خو عيسی هغه ته اجازه ورنه کړه او ورته ويې ويل: «بېرته خپل کور او خپلې کورنۍ ته
ورشه او هغوی ته ووايه چې څښتن ستا دپاره څومره لوی کار وکړ او څنګه يې په تا باندې رحم
وکړ.» ٢٠ نو هغه سړی لاړ او څه چې عيسی د هغه دپاره کړي وو د هغو په هکله يې د دکاپولس
په سيمه کې ټول خلک خبر کړل او هغوی ټول حيران شول.

## يوې ښځې ته شفا ورکول او د مړې انجلۍ راژوندي کول

(متي ٩: ١٨ – ٢۶ او لوقا ٨: ۴٠ – ۵۶)

٢١ کله چې عيسی يوځل بيا په کشتۍ کې د درياب بلې غاړې ته پورې وت، نو هلته د درياب په
غاړه ګڼ شمېر خلک ورڅخه راټاو شول. ٢٢ بيا د کنيسې يو مشر چې يايروس نومېده راغی او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کله چې هغه عیسی ولید نو په پښو کې یې پرېوت، ۲۳ ډېره زاري یې ورته وکړه او ویې ویل:
«زما کوچنۍ لور د مرګ په حال کې ده. مهرباني وکړه راشه او خپل لاس په هغې باندې کېږده چې
روغه شي او ژوندۍ پاتې شي.» ۲۴ نو عیسی د هغه سره لاړ.

ګڼ شمېر خلک ورسره روان شول او د هرې خوا څخه وربانديې خلک راټول شول. ۲۵ په هغوی
کې یوه ښځه وه چې د دولسو کالو راهیسې د وینې بهېدلو په ناروغۍ اخته وه. ۲۶ هغه د ډېرو
ډاکترانو له لاسه په تکلیف شوې وه او هرڅه چې هغې لرل هغه یې ولګول، خو د دې په ځای چې
ښه شي هغه نوره هم بدتر بدله. ۲۷ هغې د عیسی په هکله د خلکو خبرې اورېدلې وې، نو په
ګڼه ګوڼه کې د شا له خوا راغله او د عیسی چپنې ته یې لاس وروړ. ۲۸ هغې د خپل ځان سره
ویل: «که زه یوازې د هغه کالیو ته هم لاس وروړم نو روغه به شم.» ۲۹ څنګه چې هغې د هغه
کالیو ته لاس وروړ نو سمدلاسه یې وینه ودرېدله او په ځان پوهه شوه چې ناروغي یې ښه شوې
ده. ۳۰ په هماغه شېبه کې عیسی پوه شو چې د هغه څخه یو قوت راووت. هغه د خلکو
ګڼې ګوڼې ته مخ راواړاوه او ویې ویل: «چا زما کالیو ته لاس وروړ؟» ۳۱ شاګردانو یې ورته
وویل: «ته وینې چې خلک څنګه ستا شاوخوا ته راټول شوي دي او بیاهم وایې چې چا راته لاس
راوړ؟» ۳۲ خو عیسی شاوخوا وکتل چې وګوري دا کار چا کړی دی. ۳۳ خو هغه ښځه پوه
شوه چې څه وربانديې شوي دي نو له وېرې رپېدله، راغله او د هغه پښو ته پرېوتله او ټول حال یې
ورته ووایه. ۳۴ عیسی هغې ته وویل: «لورې، ته خپل ایمان روغه کړې. په خیر لاړه شه او د تل
دپاره د دې ناروغۍ څخه خلاصه شې.»

۳۵ عیسی لا خبرې کولې چې د کنیسې د مشر یاییروس د کور نه څو کسان راغلل او ویې ویل:
«ستا لور مړه شوه. نور ولې استاذ ته تکلیف ورکوې؟» ۳۶ عیسی د هغوی خبرو ته غوږ ونه نیوه
او د کنیسې مشر ته یې وویل: «مه وېرېږه، یوازې ایمان ولره.» ۳۷ بیا هغه له پطروس، یعقوب او
د یعقوب ورور یوحنا پرته بل چاته اجازه ورنه کړه چې د هغه سره لاړ شي. ۳۸ کله چې هغوی د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کنیسې د مشر کور ته ورسېدل، عیسی د ویرجنو خلکو یوه ډله ولیدله او ویې لیدل چې په چیغو
چیغو یې ژړا او انګولا کوله. ۳۹ نو عیسی دننه ورغی او هغوی ته یې وویل: «تاسو ولې دا
شورماشور جوړ کړی او ژړاګانې کوئ؟ انجلۍ مړه نه ده بلکې ویده ده.» ۴۰ خو هغوی ورپورې
وخندل. عیسی هغوی ټول له کوره وویستل او د انجلۍ مور او پلار او خپل درې شاګردان یې د
ځان سره کړل او هغې کوټې ته ورننوتل چې انجلۍ په کې پرته وه. ۴۱ عیسی انجلۍ له لاسه
ونیوله او ورته ویې ویل: «طلیتا قومي» یعنې «ای انجلۍ، تاته وایم راپاڅېږه.» ۴۲ انجلۍ
سمدلاسه راپاڅېدله او روانه شوه. هغه دولس کلنه وه. په دې کار هغوی ډېر حیران شول. ۴۳ خو
عیسی هغوی ته په کلکه امر وکړ چې له دې نه باید هېڅوک خبر نه شي او هغوی ته یې وویل:
«هغې ته څه شی ورکړئ چې ویې خوري.»

## د ناصرې خلک عیسی نه مني

(متي ۱۳: ۵۳ – ۵۸ او لوقا ۴: ۱۶ – ۳۰)

۶ ۱ عیسی له هغه ځای څخه روان شو او د خپلو شاګردانو سره بېرته خپل ښار ته راغی. ۲
د سبت په ورځ عیسی په کنیسه کې په تعلیم ورکولو پیل وکړ او ډېرو خلکو چې د هغه تعلیم
واورېد نو حیران شول او پوښتنه یې وکړه: «دې سړي دا خبرې چېرته زده کړي دي؟ دا څه ډول
حکمت دی چې هغه ته ورکړل شوی دی؟ هغه څنګه دا معجزې ښایي؟ ۳ دا هغه نجار، یعنې د
مریم زوی او د یعقوب، یوسف، یهودا او شمعون ورور نه دی؟ ایا د هغه خویندې دلته زمونږ سره نه
اوسیږي؟» نو هغوی هغه قبول نه کړ. ۴ عیسی هغوی ته وویل: «د یو پیغمبر په هرځای کې
درناوی کیږي، خو په خپل وطن، خپلو خپلوانو او خپلې کورنۍ کې یې نه کیږي.» ۵ نو هغه ونه
شو کولای چې هلته کومه معجزه وښایي، یوازې په یو څو ناروغانو باندې یې خپل لاس کېښود او
هغوی یې روغ کړل. ۶ او عیسی د هغوی په بې ایمانۍ حیران شو.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی دولس شاګردان لېږي

(متي ۱۰: ۵أ – ۱۵ او لوقا ۹: ۱أ – ۶)

عیسی کلي په کلي ګرځېده او خلکو ته يې تعلیم ورکاوه.

۷ هغه خپل دولس شاګردان راوغوښتل او هغوی يې دوه دوه تنه ولېږل او هغوی ته يې د پېریانو
د ویستلو اختیار ورکړ ۸ او حکم يې ورته وکړ: «د سفر دپاره له یوې امسا پرته بل هېڅ شی د
ځان سره وانخلئ، نه ډوډی، نه خورجین او نه پیسې. ۹ تاسو کولای شئ چې څپلی په پښو
کړئ، خو اضافه کالي درسره مه اخلئ.» ۱۰ او دا يې هم ورته وویل: «کله چې تاسو کوم کور ته
ننوځئ نو تر هغې پورې چې له هغه ښار څخه ځئ، هلته پاتې شئ. ۱۱ او که چېرې په کوم ځای
کې خلک تاسو قبول نه کړي او یا ستاسو خبرو ته غوږ ونه نیسي، نو له هغه ځای څخه لاړ شئ او
د خپلو پښو خاورې وڅنډئ ترڅو د هغوی په خلاف شاهدي شي.» ۱۲ نو شاګردان لاړل او
خلکو ته يې وعظ کاوه چې باید توبه وباسي. ۱۳ هغوی ډېر پېریان وویستل او د ډېرو ناروغانو
سرونه يې د زیتون په تېلو باندې غوړ کړل او هغوی يې روغ کړل.

## د تعمید ورکوونکي یحیی مړینه

(متي ۱۴: ۱أ – ۱۲ او لوقا ۹: ۷أ – ۹)

۱۴ د دې کارونو څخه هیرودیس پاچا خبر شو، ځکه چې د عیسی نوم په هرځای کې مشهور
شوی ؤ، ځینو خلکو ویل: «تعمید ورکوونکی یحیی بیا راژوندی شوی دی، نو له دې امله هغه دا
قدرت لري چې معجزې وښايي.» ۱۵ نورو به ویل: «هغه الیاس نبي دی.» او ځینو به ویل: «دا د
پخوانیو پیغمبرانو په شان یو پیغمبر دی.» ۱۶ خو کله چې هیرودیس د عیسی د کارونو څخه خبر
شو نو ویې ویل: «دا هماغه یحیی دی چې ما يې سر پرې کړی ؤ او اوس بېرته راژوندی شوی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دی.» ۱۷ ځکه چې هیرودیس په خپله امر کړی ؤ چې یحیی دې ونیول شي، هغه دې وتړل شي
او په زندان کې دې واچول شي. هیرودیس دا کار د هیرودیا په خاطر کړی ؤ. هیرودیا د هیرودیس
د ورور فیلیپوس ښځه وه، خو هیرودیس ورسره واده کړی ؤ. ۱۸ یحیی به هیرودیس ته ویل:
«تاته روا نه ده چې د خپل ورور د ښځې سره واده وکړې.» ۱۹ نو دهیرودیا په زړه کې د یحیی
سره کینه پیدا شوې وه او غوښتل یې چې هغه ووژني، خو هغې دا کار نه شو کولای، ۲۰ ځکه
چې هیرودیس د یحیی څخه ویرېده. هغه پوهېده چې یحیی نېک او پاک سړی دی نو د هغه ساتنه
یې کوله. چې کله به هغه د یحیی خبرې اورېدلې نو ډېر ناارامه کېده، خو بیاهم په شوق سره یې د
هغه خبرو ته غوږ نیوه.

۲۱ په پای کې هیرودیا یوه مناسبه موقع پیدا کړه. هیرودیس د خپلې زېږېدنې د کلیزې د لمانځلو
په خاطر یوه مېلمستیا جوړه کړه او په هغې کې یې خپل لوړ رتبه مامورین، عسکري قوماندانان او د
جلیل مخور خلک رابللي وو. ۲۲ په دې وخت کې د هیرودیا لور دننه راغله او ګډا یې وکړه او
هیرودیس او د هغه مېلمانه یې دومره خوشحاله کړل چې پاچا هغې انجلۍ ته وویل: «هرڅه چې
غواړې ویې غواړه، زه به یې درکړم.» ۲۳ او د هغې سره یې قسم وخوړ: «هرڅه چې زما څخه
وغواړې زه به یې درکړم، حتی خپله نیمه پاچاهي هم.» ۲۴ هغه انجلۍ دباندې ووتله او د خپلې
مور څخه یې پوښتنه وکړه: «زه ترې څه وغواړم؟» مور یې ځواب ورکړ: «د تعمید ورکوونکي یحیی
سر.» ۲۵ انجلۍ په بیړه بېرته پاچا ته ورغله او د هغه څخه یې غوښتنه وکړه: «زه ستا څخه
غواړم چې همدا اوس راته د تعمید ورکوونکي یحیی سر په پتنوس کې راکړې.» ۲۶ پاچا ډېر
زیات غمجن شو، خو د خپل قسم په خاطر چې د خپلو مېلمنو په مخکې یې خوړلی ؤ ونه غوښتل
چې د هغې سره خپل قسم مات کړي. ۲۷ نو پاچا سمدلاسه جلاد ولېږه او حکم یې ورته وکړ
چې د یحیی سر راوړي. جلاد لاړ او په زندان کې یې د یحیی سر پرې کړ ۲۸ او هغه یې په یو
پتنوس کې راوړ او هغې انجلۍ ته یې ورکړ او هغې خپلې مور ته ورکړ. ۲۹ کله چې د یحیی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شاګردان له دې نه خبر شول نو هغوی راغلل او د هغه مړی يې يووړ او په قبر کې يې ښخ کړ.

## عيسی پنځه زره کسانو ته خوراک ورکوي

(متي ۱۴: ۱۳– ۲۱ او لوقا ۹: ۱۰– ۱۷ او يوحنا ۶: ۱– ۱۴)

۳۰ رسولان بېرته عيسی ته راغلل او هرڅه چې هغوی کړي وو او کوم تعليم چې يې ورکړی ؤ
هغه يې ترې خبر کړ. ۳۱ دومره ډېر خلک تلل او راتلل چې عيسی او شاګردانو يې دومره وخت
هم نه درلود چې ډوډۍ وخوري، نو عيسی هغوی ته ووېل: «راځئ چې يو داسې ځای ته لاړ شو
چې هلته يوازې اوسو او لږ ارام وکړو.» ۳۲ بيا هغوی خپله په کشتۍ کې يو ګوښه ځای ته لاړل.
۳۳ خو ډېرو خلکو هغوی وليدل چې روان وو او هغوی يې وپېژندل او خلکو د ټولو ښارونو نه
په پښو باندې هغه ځای ته ورمنډې کړې او د هغوی څخه مخکې هلته ورسېدل. ۳۴ کله چې
عيسی د کشتۍ څخه ښکته شو او د خلکو يوه لويه ګڼه ګوڼه يې وليدله نو زړه يې ورباندې وسوځېد،
ځکه چې هغوی د بې شپونه پسونو په شان وو. نو هغوی ته يې د ډېرو شيانو په هکله تعليم ورکول
پيل کړل. ۳۵ کله چې ماښام شو نو شاګردان يې ورته راغلل او ورته ويې ويل: «دا ځای د دښتې
په شان دی او ناوخته شوې ده. ۳۶ خلک رخصت کړه چې شاوخوا کليو او بانډو ته لاړ شي او
ځانونو ته د خوړلو دپاره کوم څه واخلي.»

۳۷ خو عيسی ووېل: «تاسو خپله هغوی ته څه ورکړئ چې ويې خوري.» هغوی ورته ووېل:
«ايا مونږ لاړ شو او هغوی ته د سپينو زرو په دوه سوه سکو ډوډۍ واخلو او ورېې کړو چې ويې
خوري؟» ۳۸ عيسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «ستاسو سره څومره ډوډۍ شته؟ لاړ شئ او ويې
ګورئ.» کله چې هغوی وليدل نو هغه ته يې ووېل: «زمونږ سره پنځه ډوډۍ دي او دوه ماهيان.»
۳۹ بيا عيسی خپلو شاګردانو ته امر وکړ چې خلک ډله ډله په شنو واښو باندې کښېنوي. ۴۰ نو
خلک په قطارونو کې ډله ډله کښېناستل او په هره ډله کې سل سل او پنځوس پنځوس تنه وو. ۴۱

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

بیا عیسی هغه پنځه ډوډۍ او دوه ماهیان راواخیستل، اسمان ته یې وکتل، د خدای شکر یې وویست
او ډوډۍ یې ماتې کړې. هغه یې شاګردانو ته ورکړې چې په خلکو یې وویشي. هغه همدارنګه هغه
دوه ماهیان هم په هغوی وویشل. ۴۲ هغوی ټولو وخوړل او ماړه شول. ۴۳ شاګردانو د پاتې
شویو ډوډیو او ماهیانو څخه دولس ټوکرۍ ډکې کړې. ۴۴ کومو خلکو چې ډوډۍ خوړلې وه
شمېر یې پنځه زره سړیو ته رسېده.

## عیسی د اوبو دپاسه ګرځي

(متي ۱۴: ۲۲ – ۳۳ او یوحنا ۶: ۱۵ – ۲۱)

۴۵ بیا عیسی خپل شاګردان مجبور کړل چې کشتۍ ته وخېژي او د هغه څخه مخکې د دریاب
بلې غاړې بیت صیدا ته لاړ شي. عیسی هلته پاتې شو ترڅو خلک رخصت کړي. ۴۶ کله چې
عیسی د هغوی سره خدای پاماني وکړه نو په خپله غره ته وخوت چې دعا وکړي. ۴۷ کله چې
ماښام شو نو د شاګردانو کشتۍ د دریاب په منځ کې وه او عیسی په وچه کې یوازې پاتې ؤ. ۴۸
عیسی ولیدل چې شاګردان یې په ډېر زحمت سره کشتۍ بوځي، ځکه چې باد ورته مخامخ ؤ. سهار
وختي چې لا تیاره وه عیسی د اوبو دپاسه ګرځېده او شاګردانو ته ورغی. هغه غوښتل چې د هغوی
له څنګه تېر شي، ۴۹ خو کله چې شاګردانو هغه ولید چې د اوبو دپاسه روان دی نو فکر یې وکړ
چې دا د مړو ارواح ده نو چیغې یې کړې، ۵۰ ځکه چې هغوی ټولو هغه ولید او سخت ووېرېدل.
خو عیسی سمدلاسه د هغوی سره خبرې وکړې او ویې ویل: «زړور اوسئ، زه یم، مه وېرېږئ.»
۵۱ بیا هغه د هغوی سره کشتۍ ته وخوت او باد ودرېده او هغوی ډېر زیات حیران شول. ۵۲
خو د هغوی زړونه سخت شوي وو، ځکه چې هغوی د ډوډۍ د معجزې په معنی پوه نه شول.

## عیسی په جنیسارت کې ناروغانو ته شفا ورکوي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۱۴: ۳۴آ- ۳۶)

۵۳ هغوی د دریاب څخه پورې وتل، د جنیسارت سیمې ته ورسېدل او کشتۍ يې هلته ودروله.
۵۴ کله چې هغوی له کشتۍ څخه ښکته شول نو خلکو سمدلاسه عیسی وپېژنده، ۵۵ او هغوی
په منډه منډه شاوخوا ټولو سیمو ته لاړل او چېرته چې به خلکو وویل چې عیسی په هغه ځای کې
دی نو هغوی به خپل ناروغان ورته په کټونو کې راوړل. ۵۶ عیسی به چې هر کلي، ښار او بانډې
ته تللو نو خلکو به ورته بازارونو ته خپل ناروغان وړل او زارۍ به يې ورته کولې چې ناروغانو ته
دومره اجازه ورکړي چې لږ تر لږه د هغه لمنې ته لاس وروړي او هر چا چې به لاس وروړ نو هغه
به روغېده.

## د خدای حکمونه د نیکونو د روایتونو نه لوړ دي

(متي ۱۵: ۱آ- ۹)

۷ ۱ ځینې فریسیان او د شریعت عالمان چې له اورشلیم څخه راغلي وو، د عیسی نه
ګردچاپېره راټول شول. ۲ هغوی ولیدل چې د هغه ځینو شاګردانو په ناپاکو لاسونو ډوډۍ
خوړله.

۳ فریسیانو او ټولو یهودیانو به تر هغې پورې ډوډۍ نه خوړله ترڅو پورې چې خپل لاسونه به
يې د خپلو نیکونو د روایتونو له مخې نه وو وینځلې. ۴ کله چې به هغوی د بازار څخه راتلل نو
تر هغې پورې چې غسل به يې نه ؤ کړی، هېڅ شی به يې نه خوړل. او د نورو ډېرو رواجونو څخه
به يې پیروي کوله لکه د پیالو، دېګونو او مسي لوښو وینځل.

۵ نو فریسیانو او د شریعت عالمانو د عیسی څخه پوښتنه وکړه: «ستا شاګردان ولې زمونږ د

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نیکونو په رواجونو باندې عمل نه کوي، بلکې په ناپاکو لاسونو ډوډۍ خوري؟»

۶ عیسی ځواب ورکړ: «اشعیا نبي په حقه ؤ چې ستاسو منافقانو په هکله یې پېشګویي کوله، لکه څنګه چې هغه لیکلي وو: دا خلک په خوله زما عزت کوي خو زړونه یې زما نه لېرې دي.
۷ د هغوی عبادت ګټه نه لري، ځکه چې هغوی د خدایي حکمونو په ځای د انساني حکمونو تعلیم ورکوي.»

۸ «نو تاسو د خدای حکمونه پرېښي دي او په انساني روایتونو باندې عمل کوئ.» ۹ عیسی
هغوی ته دا هم وویل: «تاسو د خدای د حکمونو د ردولو دپاره ښه لاره موندلې، ترڅو په خپلو
رواجونو باندې عمل وکړئ. ۱۰ ځکه موسی ویلي دي چې د خپل مور او پلار عزت کوه او
هرڅوک چې خپل مور او پلار ته ښکنځلې وکړي، باید ووژل شي. ۱۱ خو تاسو وایئ چې که
چېرې څوک خپل مور او پلار ته ووایي چې زه ستاسو سره مرسته نه شم کولای، ځکه کوم څه چې
باید تاسو ته مې درکړي وای ما نذر منلی دی چې هغه د خدای په نوم ورکړم، ۱۲ نو په دې ډول
تاسو هغه نور نه پرېږدئ چې د خپل مور او پلار سره مرسته وکړي. ۱۳ نو د خپل دود او دستور
په خاطر د خدای کلام ته ارزښت نه ورکوئ. او تاسو داسې نور ډېر کارونه هم کوئ.»

## هغه شیان چې د انسان د ناپاکۍ سبب ګرځي

(متي ۱۵: ۱۰أ – ۲۰)

۱۴ عیسی یوځل بیا خلک راوغوښتل او ورته وې ویل: «تاسو ټول زما خبرو ته غوږ ونیسئ او
ځانورباندې پوه کړئ. ۱۵ هېڅ داسې شی نشته چې انسان یې وخوري او ورباندې ناپاکه شي،
خو کومې بدې خبرې چې د انسان د زړه څخه راوځي هغه انسان ناپاکه کوي. [ ۱۶ که څوک
غوږونه لري نو هغه دې واوري.]»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۱۷ کله چې عیسی د خلکو څخه رخصت شو او کور ته ننوت، نو شاګردانو یې د دې مثال په
هکله د هغه څخه پوښتنه وکړه. ۱۸ عیسی هغوی ته وویل: «ایا تاسو هم د نورو په شان ناپوهه
یئ؟ ایا نه پوهېږئ چې کوم شی چې له بهر نه د انسان وجود ته ننوځي، نه شي کولای هغه ناپاکه
کړي. ۱۹ ځکه چې دا خواړه د هغه زړه ته نه ننوځي بلکې د هغه خېټې ته ځي او وروسته بیا د
بدن څخه وځي.» په دې خبرې عیسی ټول خواړه حلال اعلان کړل.

۲۰ او هغه زیاته کړه: «څه چې د انسان له دننه راوځي هغه وربانديې ناپاکه کیږي. ۲۱ ځکه چې
د انسان د زړه څخه بد خیالونه، جنسي بد اخلاقي، غلا، قتل، ۲۲ زناکاري، حرص، بدي، ټګي،
شهوت پرستي، بخیلي، تور لګول، غرور او بې عقلي راوځي. ۲۳ دا ټول بد شیان له دننه څخه
راوځي او انسان ناپاکه کوي.»

## د یوې غیریهودۍ ښځې ایمان

(متي ۱۵: ۲۱آ – ۲۸)

۲۴ بیا عیسی له هغه ځای څخه روان شو او د صور سیمې ته لاړ. هغه یو کور ته ورغی او نه یې
غوښتل چې څوک ورباندې پوه شي چې هغه هلته دی، خو ویې نه شو کولای چې پټ پاتې شي.
۲۵ سمدلاسه یوه ښځه چې لور یې پېریانو نیولې وه د عیسی نه خبره شوه او راغله او د هغه په
پښو کې پرېوتله. ۲۶ هغه ښځه یونانۍ وه او د سوریې د فینیقیې په سیمه کې زېږېدلې وه. هغې
عیسی ته زاري وکړه چې د لور څخه یې پېریان وباسي. ۲۷ خو عیسی هغې ته وویل: «پرېږده
چې لومړی ماشومان ماړه شي، دا سمه نه ده چې څوک دې د ماشوم ډوډۍ واخلي او سپیو ته یې
واچوي.» ۲۸ هغې ځواب ورکړ: «هو، ښاغلیه! خو د کور سپي هم د ماشومانو د ډوډۍ پاتې
شونې خوري.» ۲۹ بیا عیسی هغې ته وویل: «دا چې ښه ځواب دې ووایه نو خپل کور ته لاړه
شه، ستا د لور څخه پېریان وتلي دي.» ۳۰ کله چې هغه ښځه بېرته کور ته لاړه نو ویې لیدل چې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لور يې په کټ کې پرته وه او پېريان ترې وتلي وو.

## عيسی يو کوڼ سړي ته شفا ورکوي

۳۱ بيا عيسی د صور له سيمې څخه راستون شو او د صيدون او دکاپولس په لاره د جليل درياب
ته لاړ. ۳۲ په هغه ځای کې ځينو خلکو هغه ته يو سړی چې کوڼ ؤ او ژبه يې هم بندېدله،
راوست. هغوی ورته زاري وکړه چې په هغه سړي باندې خپل لاس کېږدي. ۳۳ نو عيسی هغه
سړی د خلکو د ګڼې ګوڼې څخه يوې خواته بوته او خپلې ګوتې يې د هغه په غوږونو کې کېښودلې،
بيا يې ګوتې په لاړو لمدې کړې او ژبه يې ورته لمس کړه. ۳۴ بيا عيسی اسمان ته وکتل، اوسېلی
يې وويست او هغه ته يې وويل: «افتح» يعنې «خلاص شئ.»

۳۵ سمدلاسه د هغه سړي غوږونه خلاص شول، د ژبې بندېدل يې ښه شول او په عادي توګه يې
خبرې کول پيل کړې. ۳۶ عيسی هغوی ته امر وکړ چې په دې هکله هېچا ته څه ونه وايي، خو
هرڅومره چې عيسی هغوی د دې کار څخه منع کول، همدومره به هغوی دا خبره نوره هم خپروله.
۳۷ خلک ډېر زيات حيران شوي وو او ويل يې: «د هغه ټول کارونه حيرانوونکي دي. حتی هغه
کاڼه روغ کړل چې واورې او ګونګيان يې روغ کړل چې خبرې وکړي.»

## عيسی څلور زره کسانو ته خواړه ورکوي

(متي ۱۵: ۳۲ – ۳۹)

۸ ۱ په هغو ورځو کې يوځل بيا ګڼ شمېر خلک راټول شول او د هغوی سره د خوړلو دپاره
هېڅ شی نه ؤ، نو عيسی خپل شاګردان راوغوښتل او ورته وېې ويل: ۲ «په دې خلکو باندې زما
زړه سوځي، ځکه چې درې ورځې کېږي هغوی زما سره دي او هېڅ شی ورسره نشته چې ويې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خوري. ۳ که چېرې هغوی خپلو کورونو ته وږي رخصت کړم نو په لاره کې به بې حاله شي،
ځکه چې په هغوی کې ځيني يې د لېرې ځايونو څخه راغلي دي.»

۴ شاګردانو يې ځواب ورکړ: «په دې دښته کې څوک دومره خلکو ته ډوډۍ ورکولای شي؟»

۵ عيسی پوښتنه وکړه: «تاسو سره څو ډوډۍ دي؟» هغوی ځواب ورکړ: «اووه ډوډۍ.»

۶ نو عيسی خلکو ته وويل چې په ځمکه کښېني. بيا يې هغه اووه ډوډۍ راواخيستلې، د خدای
شکر يې وويست، ډوډۍ يې ماتې کړې او شاګردانو ته يې ورکړلې چې په خلکو باندې يې ووېشي
او شاګردانو همداسې وکړل. ۷ د هغوی سره يو څو واړه ماهيان هم وو. عيسی په هغو هم شکر
وويست او شاګردانو ته يې وويل چې هغه هم ووېشي. ۸ خلکو هغه وخوړل او ټول ورباندې
ماړه شول او د ډوډۍ د پاتې شويو ټوټو نه اووه ټوکرۍ ډکې شوې. ۹ په هغه ځای کې نژدې
څلور زره کسان وو. عيسی هغوی رخصت کړل، ۱۰ او سمدلاسه د خپلو شاګردانو سره په کشتۍ
کې سپور شو او د دلمانوته سيمې ته لاړ.

## د فريسيانو له خوا د معجزې غوښتنه

(متي ۱۶: ۱– ۴)

۱۱ فريسيان راغلل او د عيسی سره يې بحث پيل کړ او د دې دپاره چې هغه وازمايي نو د هغه
څخه يې وغوښتل چې دوی ته يوه اسماني معجزه وښايي. ۱۲ هغه يو سوړ اوسپلی وويست او
ويې ويل: «د دې زمانې خلک ولې معجزه غواړي؟ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې دې خلکو
ته به هېڅ يوه معجزه ونه ښودل شي.» ۱۳ بيا عيسی هغوی پرېښودل او بېرته په کشتۍ کې
کښېناست او د درياب بلې غاړې ته لاړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د فریسیانو او هیرودیس د تعلیم خخه لېرې اوسئ

(متي ۱۶: ۵ – ۱۲)

۱۴ شاګردانو دا هېر کړي وو چې د ځان سره ډوډۍ یوسي او په کشتۍ کې د هغوی سره یوازې
یوه ډوډۍ وه. ۱۵ عیسی هغوی ته امر وکړ او ویې ویل: «پام کوئ، د فریسیانو او هیرودیس د
خمیرې نه به ځانونه ساتئ.» ۱۶ نو شاګردانو په خپل منځ کې سره بحث شروع کړ او ویې ویل:
«هغه ځکه دا خبره کوي چې زمونږ سره ډوډۍ نشته.»

۱۷ عیسی پوه شو چې هغوی څه وایي، نو د هغوی څخه یې پوښتنه وکړه: «تاسو ولې په دې
هکله بحث کوئ چې ډوډۍ درسره نشته؟ ایا تاسو تر اوسه خبر نه یئ او نه پوهېږئ؟ ایا ستاسو
زړونه سخت شوي دي؟ ۱۸ تاسو سترګې لرئ خو لیدلی نه شئ او غوږونه لرئ خو اورېدلی نه
شئ؟ ایا تاسو ته په یاد نه دي ۱۹ چې کله ما پنځه ډوډۍ په پنځه زره کسانو ووېشلې نو تاسو د
هغې ډوډۍ د پاتې شویو ټوټو څخه څو ټوکرۍ ډکې کړې؟» هغوی وویل: «دولس ټوکرۍ.» ۲۰
نو عیسی پوښتنه وکړه: «چې کله مې اووه ډوډۍ په څلورو زرو کسانو ووېشلې، د هغو د پاتې شویو
ټوټو څخه مو څو ټوکرۍ ډکې کړې؟» هغوی وویل: «اووه ټوکرۍ.» ۲۱ نو عیسی وویل: «تاسو لا
تر اوسه هم نه پوهېږئ؟»

## عیسی په بیت صیدا کې یو ړوند ته شفا ورکوي

۲۲ عیسی او شاګردان یې بیت صیدا ته ورسېدل. هلته ځینو خلکو عیسی ته یو ړوند سړی
راوست او هغه ته یې زاري وکړه چې په هغه باندې خپل لاس کېږدي. ۲۳ عیسی هغه ړوند له
لاسه ونیوه او د کلي څخه یې دباندې بوته. بیا یې د هغه په سترګو باندې لاړې پورې کړې او خپل
لاسونه یې ورباندې کېښودل او پوښتنه یې تري وکړه: «ایا څه شی وینې؟» ۲۴ د هغه سترګې بینا

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

شوې او ويې ويل: «هو، زه خلک وينم چې ګرځي او راګرځي، خو هغوی راته د ونو په شان
ښکاري.» ۲۵ عيسی يوځل بيا د هغه په سترګو باندې خپل لاسونه کېښودل او هغه بيخي بينا شو،
د سترګو نظر يې بېرته جوړ شو او هرڅه يې ښه ليدلی شول. ۲۶ عيسی هغه خپل کور ته رخصت
کړ او ورته ويې ويل: «ته کولای شې چې بېرته خپل کور ته لاړ شې، خو په کلي کې مه ګرځه.»

## د عيسی په هکله د پطروس اقرار

(متي ۱۶: ۱۳ – ۲۰ او لوقا ۹: ۱۸ – ۲۱)

۲۷ بيا عيسی او شاګردان يې د قيصريې فيليپوس شاوخوا کليو ته لاړل. هغه په لاره کې د خپلو
شاګردانو څخه پوښتنه وکړه: «خلک څه وايي چې زه څوک يم؟» ۲۸ هغوی ځواب ورکړ: «ځينې
وايي چې ته تعميد ورکوونکی يحيی يې، ځينې وايي چې الياس نبي يې او نور وايي چې د پيغمبرانو
څخه يو پيغمبر يې.» ۲۹ بيا عيسی پوښتنه وکړه: «تاسو څه وايئ چې زه څوک يم؟» پطروس
ځواب ورکړ: «ته مسيح يې.» ۳۰ بيا عيسی هغوی ته په کلکه حکم وکړ چې د هغه په هکله دې
هېچا ته څه ونه وايي.

## عيسی د خپلو کړاوونو او مرګ په هکله پېشګويي کوي

(متي ۱۶: ۲۱ – ۲۸ او لوقا ۹: ۲۲ – ۲۷)

۳۱ بيا عيسی خپلو شاګردانو ته تعليم ورکول پيل کړ چې د انسان زوی به خامخا زيات کړاوونه
وزغمي او د يهوديانو د مشرانو، مشرانو کاهنانو او د شريعت د عالمانو له خوا به رد کړای شي او وبه
وژل شي او په درېيمه ورځ به بيا راژوندی شي. ۳۲ هغه په دې هکله ښکاره خبرې وکړې. نو
پطروس هغه ګوښه کړ او د داسې خبرو نه يې منع کړ. ۳۳ خو عيسی مخ راواړاوه او خپلو
شاګردانو ته يې وکتل او پطروس يې ورټلو او ورته ويې ويل: «زما له مخې نه لېرې شه شيطانه! ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د انسانانو په شان فکر کوې، نه د خدای په شان.»

۳۴ بیا عیسی خلک او خپل شاګردان راوغوښتل او هغوی ته یې وویل: «که څوک وغواړي چې
زما د پیروانو څخه اوسي، نو باید د خپل ځان څخه تېر شي، خپل صلیب دې راواخلي او ما پسې
دې راځي. ۳۵ ځکه څوک چې وغواړي خپل ځان وساتي نو هغه به له لاسه ورکړي، خو که
څوک زما او زما د زېري په خاطر خپل ژوند له لاسه ورکړي نو هغه به وژغوري. ۳۶ د یو چا
دپاره به څه ګټه وي چې ټوله نړۍ لاسته راوړي خو خپل ځان له لاسه ورکړي؟ ۳۷ انسان د
خپل ژوند په بدل کې څه شی ورکولای شي؟ ۳۸ که چېرې څوک په دې بې ایمانه او ګناهکاره
زمانه کې په ما او یا زما په کلام شرمیږي، نو د انسان زوی به هم کله چې د خپل پلار په جلال کې
د سپېڅلو فرښتو سره راځي، په هغه وشرمیږي.»

**۹** ۱ عیسی زیاته کړه: «په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې دلته ځینې داسې خلک ولاړ دي
چې تر هغې پورې به مړه نه شي ترڅو یې د خدای پاچاهي چې په قدرت سره به راشي لیدلې نه
وي.»

## د عیسی د څېرې بدلېدل

(متی ۱۷: ۱– ۱۳ او لوقا ۹: ۲۸– ۳۶)

۲ شپږ ورځې وروسته عیسی پطروس، یعقوب او یوحنا د ځان سره واخیستل او یو لوړ غره ته
یې بوتلل چې هلته یوازې اوسي. هلته د هغوی په مخکې د عیسی څېره بلکل بدله شوه. ۳ او د
هغه کالي سپین وځلېدل، داسې سپین چې د ځمکې په مخ هېڅ داسې نه شو سپینولی. ۴ بیا
هغوی الیاس نبي او موسی ولیدل چې د عیسی سره یې خبرې کولې. ۵ پطروس عیسی ته وویل:
«استاذه! ښومره ښه ده چې مونږ دلته یو. راځئ چې درې خېمې جوړې کړو: یوه تاته، یوه موسی ته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

او یوه الیاس ته.» ۶ پطروس نه پوهېده چې څه وایي، ځکه چې هغوی ټول وېرېدلي وو.

۷ بیا یوه وریځ رابنکاره شوه او په هغوی باندې یې سیوری وکړ او د هغې وریځې څخه یو اواز
راغی چې ویل یې: «دا زما ګران زوی دی، هغه ته غوږ ونیسئ.» ۸ هغوی سمدلاسه شاوخوا ته
وکتل خو هېڅوک یې ونه لیدل، یوازې عیسی د هغوی سره ؤ.

۹ کله چې هغوی د غره څخه رابنکته کېدل نو عیسی هغوی ته امر وکړ: «څه چې مو لیدلي دي
د هغو په هکله تر هغه وخته پورې هېچا ته څه مه وایئ ترڅو پورې چې د انسان زوی بېرته د مړو
څخه راژوندی شوی نه وي.» ۱۰ هغوی دا خبره د خپل ځان سره وساتله او په خپلو کې یې سره
بحث کاوه چې د مړو څخه د بیا راژوندي کېدلو معنی څه ده. ۱۱ نو هغوی د عیسی نه پوښتنه
وکړه: «د شریعت عالمان ولې وایي چې لومړی باید الیاس نبي راشي؟» ۱۲ عیسی ځواب ورکړ:
«هو خامخا، الیاس به لومړی راځي چې هرڅه سم کړي. خو بیا ولې د خدای په کلام کې لیکل
شوي دي چې د انسان زوی به ډېر کړاوونه وزغمي او په سپک نظر به ورته وکتل شي؟ ۱۳ خو
زه تاسو ته وایم چې الیاس راغلی دی او لکه څنګه چې د هغه په هکله لیکل شوي دي، خلکو چې
هرڅه غوښتل د هغه سره یې وکړل.»

## عیسی یو پېرانو نیولي هلک ته شفا ورکوي

(متي ۱۷: ۱۴– ۲۱ او لوقا ۹: ۳۷– ۴۳)

۱۴ کله چې عیسی او د هغه درې شاګردان بېرته راغلل نو ویې لیدل چې ګڼ شمېر خلک د هغوی
شاوخوا ولاړ دي او د شریعت عالمان د هغوی سره بحث کوي. ۱۵ څنګه چې خلکو عیسی ولید
نو ډېر حیران شول او په منډه منډه یې ستړي مشي ته ورغلل. ۱۶ عیسی د شاګردانو څخه پوښتنه
وکړه: «د څه شي په هکله د هغوی سره بحث کوئ؟» ۱۷ د ګڼې ګوڼې له منځ نه یو سړي ځواب

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورکړ: «استاذه، ما خپل زوی تاته راوستلی دی. هغه پېريانو نيولی او خبرې نه شي کولای. ۱۸
کله چې په هغه باندې پېريان راشي نو په ځمکه يې راولي او د خولې څخه يې ځګونه روان وي،
خپل غاښونه چيچي او بدن يې شخ شي. ستا د شاګردانو څخه مې وغوښتل چې پېريان ترې وباسي
خو هغوی ونه شو کولای.»

۱۹ عيسی په ځواب کې وويل: «ای د دې زماني بې ايمانه نسله! ترڅو پورې به زه ستاسو سره
يم؟ ترڅو پورې به تاسو ته حوصله کوم؟ هغه هلک ماته راولئ.» ۲۰ نو هغوی هغه هلک عيسی
ته راوست. څنګه چې پېري عيسی وليد نو سمدلاسه په هلک باندې حمله راغله. هغه په ځمکه
راولوېد، اخوا دې خوا رغړېده او د خولې څخه يې ځګونه راووتل. ۲۱ عيسی د هلک د پلار
څخه پوښتنه وکړه: «څومره موده کيږي چې هلک په دې حال دی؟» هغه ځواب ورکړ: «د
کوچنيوالي راهيسې. ۲۲ څو څو ځلې يې هغه په اور او په اوبو کې غورځولی دی چې ويې وژني.
خو که ته څه کولای شې نو په مونږ رحم وکړه او مرسته راسره وکړه.» ۲۳ عيسی وويل: «ته ولې
وايې چې که ته څه کولای شې؟ هرڅوک چې ايمان ولري د هغه دپاره هرڅه ممکن دي.» ۲۴
سمدلاسه د هلک پلار چيغې کړې: «زه ايمان لرم، خو ايمان مې کمزوری دی. زما سره مرسته وکړه
چې قوي شي.» ۲۵ کله چې عيسی وليدل د خلکو ګڼه ګوڼه زياتيږي نو هغه پېری ورټلو او ورته
ويې ويل: «ای ګونګ او کوڼ پېريه، زه تاته امر کوم چې د هغه څخه راووځه او بيا هېڅکله مه
ورننوځه.» ۲۶ پېري چيغې کړې او هلک ته يې سخت ټکان ورکړل او بيا ترې ووت. هلک د
مړي په شان ښکاره کېده او ډېرو به ويل: «هغه مړ دی.» ۲۷ خو عيسی هغه له لاسه ونيوه او هغه
يې راپورته کړ او هلک ودرېده.

۲۸ عيسی کور ته لاړ او کله چې هلته نور څوک نه وو شاګردانو يې ترې پوښتنه وکړه: «مونږ
ولې ونه شو کولای چې هغه پېری وباسو؟» ۲۹ عيسی ځواب ورکړ: «دا ډول پېريان يوازې په
دعا کولو وتلی شي.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی یوځل بیا د خپل مرګ په هکله خبرې کوي

(متي ۱۷: ۲۲، ۲۳ او لوقا ۹: ۴۳ – ۴۵)

۳۰ عیسی او شاګردان یې له هغه ځای څخه لاړل او د جلیل په لاره یې خپل سفر ته دوام ورکړ.
عیسی دا نه غوښتل چې څوک ترې خبر شي چې هغه چېرته دی، ۳۱ ځکه چې هغه خپلو
شاګردانو ته تعلیم ورکاوه او هغوی ته یې ویل: «د انسان زوی به خلکو ته په لاس ورکړل شي او
هغوی به یې ووژني خو درې ورځې وروسته به بیا راژوندی شي.» ۳۲ خو هغوی پوه نه شول
چې د دې خبرې معنی څه ده او وېرېدل چې پوښتنه ترې وکړي.

## د ټولو نه لوی څوک دی؟

(متي ۱۸: ۱ – ۵ او لوقا ۹: ۴۶ – ۴۸)

۳۳ بیا هغوی کپرناحوم ته راغلل او کله چې عیسی کور ته ننوت نو د خپلو شاګردانو څخه یې
پوښتنه وکړه: «په لاره کې مو د څه شي په هکله بحث کاوه؟» ۳۴ خو هغوی ځواب ورنه کړ،
ځکه چې هغوی په لاره کې په دې باندې یو د بله سره بحث کاوه چې په ټولو کې لوی څوک دی.
۳۵ عیسی کښېناست او دولس شاګردان یې راوغوښتل او ورته ویې ویل: «که څوک غواړي چې
اول شي نو هغه دې خپل ځان د ټولو نه وروسته کړي او د ټولو خدمتګار دې شي.» ۳۶ بیا هغه
یو ماشوم راوست او د هغوی په منځ کې یې ودراوه. هغه یې په غېږ کې ونیوه او هغوی ته یې وویل:
۳۷ «هرڅوک چې زما په نوم داسې یو ماشوم قبول کړي نو هغه زه قبول کړی یم او هرڅوک چې
ما قبول کړي نو هغه یوازې زه نه بلکې هغه څوک یې قبول کړی دی چې زه یې رالیږلی یم.»

## څوک چې زمونږ مخالف نه دی نو هغه زمونږ ملګری دی

(لوقا ۹: ۴۹ – ۵۰)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۸ یوحنا عیسی ته وویل: «استاذه، مونږ یو سړی ولید چې ستا په نوم یې پېریان ویستل خو مونږ
هغه د دې کار څخه منع کړ، ځکه چې هغه زمونږ د ډلې څخه نه ؤ.» ۳۹ خو عیسی ورته وویل:
«هغه مه منع کوئ، ځکه داسې څوک نشته چې زما په نوم معجزه وښايي او بیا وکولای شي چې ما
پسې بد ووايي. ۴۰ ځکه څوک چې زمونږ په خلاف نه دی هغه زمونږ سره دی. ۴۱ په یقین
سره زه تاسو ته دا وایم چې هرڅوک چې تاسو ته په دې خاطر چې د مسیح پیروان یئ یوه پیاله
اوبه درکړي نو هغه به بې اجره پاتې نه شي.

## د ګناه په خلاف خبرداری

(متي ۱۸: ۶[أ]– ۹ او لوقا ۱۷: ۱[أ]– ۲)

۴۲ که چېرې څوک د دې خلکو څخه چې د ماشوم په شان په ما باندې ایمان لري کوم یو
بې لارې کړي، نو د هغه دپاره به دا ښه وي چې د ژرندې پل ورته په غاړه کې واچول شي او
دریاب ته وغورځول شي. ۴۳ که چېرې ستا لاس ستا د ګناه سبب وګرځي نو هغه پرې کړه، ځکه
چې ستا دپاره به دا ښه وي چې د یو لاس سره تلپاتې ژوندون ته لاره پیدا کړې، نه دا چې د دوو
لاسونو سره دوزخ ته لاړ شې یعنې هغه اور ته چې هېڅکله نه مړ کیږي، [ ۴۴ هغه ځای ته چې
چینجي یې نه مړه کیږي او اور یې نه مړ کیږي.] ۴۵ که چېرې ستا پښه ستا د ګناه سبب وګرځي
نو هغه پرې کړه. ځکه چې دا ښه ده چې د یوې پښې سره تلپاتې ژوندون ته لاره پیدا کړې، نه دا
چې دواړه پښې دې روغې وي او دوزخ ته واچول شې، [ ۴۶ هغه ځای ته چې چینجي یې نه
مړه کیږي او اور یې نه مړ کیږي.][أ] ۴۷ او که چېرې ستا سترګه ستا د ګناه سبب شي نو هغه وباسه،
ځکه چې ستا دپاره به دا ښه وي چې د یوې سترګې سره د خدای پاچاهۍ ته ننوځې، نه دا چې د
دواړو سترګو سره دوزخ ته وغورځول شې، ۴۸ هغه ځای ته چې چینجي یې نه مړه کیږي او اور
یې نه مړ کیږي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۹ ځکه چې هرڅوک به په اور باندې پاکېږي. [په ټولو نذرانو باندې باید مالګه واچول شي.]
۵۰ مالګه ښه شی دی، خو که مالګه خپل خوند له لاسه ورکړي نو هغه به څنګه بېرته خپل خوند
پیدا کړئ؟ په خپلو ځانونو کې د مالګې خاصیت ولرئ او یو د بل سره په سوله کې ژوند تېروئ.»

## د طلاق په هکله د عیسی تعلیم

(متي ۱۹: ۱– ۱۲ او لوقا ۱۶: ۱۸)

۱۰ ۱ بیا عیسی له هغه ځای نه روان شو او د یهودیې سیمې ته چې د اردن د سیند بلې
غاړې پرته ده، لاړ. یوځل بیا ګڼ شمېر خلک ورته راغلل او د خپل عادت له مخې یې هغوی ته
تعلیم ورکول پیل کړ.

۲ ځینې فریسیان راغلل او د دې دپاره چې هغه وازمایي نو پوښتنه یې ترې وکړه: «ایا دا روا ده
چې یو سړی دې خپله ښځه طلاقه کړي؟» ۳ عیسی په ځواب کې د هغوی څخه پوښتنه وکړه:
«موسی په دې هکله تاسو ته څه حکم کړی دی؟» ۴ هغوی وویل: «موسی اجازه ورکړې ده
چې یو سړی کولای شي خپلې ښځې ته طلاقنامه ورکړي او هغه پرېږدي.» ۵ خو عیسی هغوی
ته وویل: «موسی دا حکم د دې دپاره تاسو ته ولیکه چې ستاسو زړونه سخت وو. ۶ خو د نړۍ
د پیدایښت نه داسې وو: ‹خدای انسانان نر او ښځه پیدا کړل. ۷ له همدې امله سړی خپل مور او
پلار پرېږدي او د خپلې ښځې سره یوځای شي ۸ او دواړه یو بدن شي.› نو هغوی به نور دوه
تنه نه بلکې یو تن وي. ۹ نو څرنګه چې خدای هغوی سره یوځای کړي دي، انسان باید هغوی
سره جدا نه کړي.»

۱۰ کله چې هغوی بېرته کور ته ننوتل، نو شاګردانو د دې موضوع په هکله د عیسی څخه پوښتنه
وکړه. ۱۱ هغه ورته وویل: «هرڅوک چې خپله ښځه طلاقه کړي او د بلې ښځې سره واده وکړي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نو هغه د خپلې لومړنۍ ښځې په وړاندې زنا کوي. ۱۲ په همدې ډول که يوه ښځه خپل مېړه ته
طلاق ورکړي او د بل سړي سره واده وکړي نو هغه هم زنا کوي.»

## عيسی ماشومانو ته برکت ورکوي

(متي ۱۹: ۱۳ – ۱۵ او لوقا ۱۸: ۱۵ – ۱۷)

۱۳ خلکو عيسی ته خپل ماشومان راوستل چې خپل لاس په هغوی باندې کېږدي، خو شاګردانو
هغوی ورټل. ۱۴ خو کله چې عيسی وليدل چې هغوی څه کوي نو خفه شو او خپلو شاګردانو ته
يې وويل: «ماشومان پرېږدئ چې ماته راشي، هغوی مه منع کوئ، ځکه چې د خدای پاچاهي د
همداسې خلکو ده. ۱۵ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم هرڅوک چې د خدای پاچاهي د يو
ماشوم په څېر ونه مني نو هغه به هېڅکله هم وردننه نه شي.» ۱۶ بيا عيسی ماشومان په غېږ کې
ونيول او خپل لاس يې د هغوی په سرونو باندې کېښود او هغوی ته يې برکت ورکړ.

## شتمن خلک او د خدای پاچاهي

(متي ۱۹: ۱۶ – ۳۰ او لوقا ۱۸: ۱۸ – ۳۰)

۱۷ کله چې عيسی په خپله لاره روان ؤ نو يو سړي رامنډه کړه او د هغه په مخکې په ګونډو شو
او پوښتنه يې ترې وکړه: «ای نېک استاذه! زه بايد څه وکړم ترڅو تلپاتې ژوندون وګټم؟» ۱۸
عيسی هغه ته وويل: «ولې ماته نېک وايې؟ بې له خدايه بل هېڅوک نېک نه دی. ۱۹ ته په
حکمونو باندې پوهېږې: زنا مه کوه، قتل مه کوه، غلا مه کوه، په دروغو شاهدي مه ورکوه، ټګي مه
کوه او د خپل مور او پلار عزت کوه.» ۲۰ هغه سړي ځواب ورکړ: «استاذه، ما د ځوانۍ له وخته
په دې ټولو حکمونو باندې عمل کړی دی.» ۲۱ عيسی هغه ته وکتل او په هغه باندې يې مينه
راغله او ورته ويې ويل: «په تا کې د يو شي کمی شته، لاړ شه او هرڅه چې لرې هغه خرڅ کړه او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پیسې یې غریبانو ته ورکړه نو ته به په اسمان کې خزانې ولرې او بیا راشه او زما پیروي وکړه.»
٢٢ په دې خبره د هغه څېره بدله شوه او غمجن لاړ، ځکه چې هغه ډېر شتمن سړی ؤ.

٢٣ عیسی شاوخوا ته وکتل او خپلو شاګردانو ته یې وویل: «شتمنو خلکو ته د خدای په پاچاهۍ
کې ننوتل څومره ګران کار دی.» ٢٤ شاګردان د هغه په خبرو حیران شول، خو عیسی یوځل بیا
هغوی ته وویل: «ای بچیانو، د خدای پاچاهۍ ته ننوتل څومره ګران کار دی. ٢٥ د ستنې د
سوري څخه د اوښ تېرېدل اسان دي له دې نه چې یو شتمن سړی دې د خدای پاچاهۍ ته
ورننوځي.» ٢٦ شاګردان ډېر زیات حیران شول او یو بل ته یې وویل: «نو بیا څوک کولای شي
چې خلاصون ومومي؟» ٢٧ عیسی هغوی ته وکتل او ویې ویل: «د انسان دپاره دا ناشونې ده خو
د خدای دپاره نه، ځکه چې د خدای دپاره هرڅه ممکن دي.» ٢٨ بیا پطروس هغه ته وویل:
«وګوره، مونږ هرڅه پرېښې دي او تا پسې روان شوي یو.» ٢٩ عیسی وویل: «په یقین سره زه
تاسو ته دا وایم چې داسې څوک نشته چې زما او زما د زېرې د رسولو په خاطر یې خپل کور یا
خپل ورونه یا خویندې یا مور او پلار یا خپل اولادونه یا خپلې ځمکې پرېښې وي، ٣٠ په دې
نړۍ کې به اوس هغوی سل چنده لاسته راوړي. هغوی به سل چنده نور کورونه، ورونه، خویندې،
میندې، اولادونه او ځمکې لاسته راوړي او د دې تر څنګ به وځورېږي او په اخرت کې به تلپاتې
ژوندون ومومي. ٣١ خو ډېر چې اوس اول دي هغوی به اخر شي او ډېر چې اوس اخر دي
هغوی به اول شي.»

## عیسی د درېم ځل دپاره د خپل مرګ په هکله پېشګویي کوي

(متي ٢٠: ١٧ – ١٩ او لوقا ١٨: ٣١ – ٣۴)

٣٢ عیسی د خپلو دولسو شاګردانو سره د اورشلیم په لاره روان ؤ او عیسی د شاګردانو څخه
مخکې روان ؤ. شاګردان حیران پاتې وو او کوم خلک چې په هغوی پسې روان وو وېرېدل. عیسی

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يوځل بیا خپل دولس شاګردان ګوښه کړل او ورته ويې ويل چې په هغه باندې به کومه پېښه کيږي.
۳۳ او هغوی ته يې ووېل: «ګورئ، مونږ اوس اورشليم ته ځو او د انسان زوی به مشرانو کاهنانو
او د شريعت عالمانو ته په لاس ورکړل شي. هغوی به ورباندې د مرګ حکم وکړي او غيريهوديانو
ته به يې وسپاري. ۳۴ هغوی به په هغه باندې ملنډې ووهي، لاړې به ورتو کړي، په دورو به يې
ووهي او وبه يې وژني، خو درې ورځې وروسته به بيا راژوندی شي.»

## د يعقوب او يوحنا غوښتنه

(متي ۲۰: ۲۰آ – ۲۸)

۳۵ بيا د زبدي زامن يعقوب او يوحنا عيسی ته راغلل او ورته ويې ويل: «استاذه، مونږ چې ستا
څخه کوم څه غواړو هغه زمونږ دپاره وکړه.» ۳۶ عيسی د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «زما څخه
څه غواړئ چې درته ويې کړم؟» ۳۷ هغوی ورته ووېل: «کله چې ته د خپل جلال څخه ډکې
پاچاهی په تخت باندې کښېنې نو مونږ ته اجازه راکړه چې يو ستا ښي لاس ته او بل دې کيڼ لاس
ته کښېنو.» ۳۸ عيسی هغوی ته ووېل: «تاسو نه پوهېږئ چې څه غواړئ. کومه پياله چې زه يې
څښم، تاسو هغه څښلی شئ او يا د تعميد کوم غسل چې ماته راکول کيږي تاسو يې اخيستلی
شئ؟» ۳۹ هغوی ځواب ورکړ: «هو، مونږ يې کولای شو.» عيسی هغوی ته ووېل: «کومه پياله
چې زه څښم، تاسو به يې وڅښئ او د تعميد کوم غسل چې زه يې اخلم، تاسو به يې هم اخلئ.
۴۰ خو دا زما په اختيار کې نه ده چې څوک به زما ښي يا چپ لاس ته کښېني. دا ځايونه د هغو
خلکو دپاره دي چې له مخکې نه ورته تيار شوي دي.»

۴۱ کله چې نور لس شاګردان له دې نه خبر شول نو د يعقوب او يوحنا څخه خفه شول. ۴۲ نو
عيسی هغوی راوغوښتل او ورته ويې ويل: «تاسو پوهېږئ چې کوم خلک چې د غيريهوديانو
حاکمان ګڼل کيږي، هغوی په خپلو خلکو باندې باداري کوي او مشران يې ورته خپل زور ښايي.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۴۳ خو په تاسو کې دې داسې نه وي، که په تاسو کې څوک غواړي چې تر ټولو لوی وګڼل شي
نو هغه دې ستاسو ټولو خدمتګار شي ۴۴ او په تاسو کې چې څوک غواړي مشر شي نو هغه باید
ستاسو ټولو خدمتګار شي. ۴۵ ځکه چې د انسان زوی د دې دپاره نه دی راغلی چې خدمت يې
وشي بلکې د نورو خدمت وکړي او خپل ژوند د ډېرو خلکو دپاره قربان کړي.»

## عیسی بارتیماوس بینا کوي

(متي ۲۰: ۲۹ – ۳۴ او لوقا ۱۸: ۳۵ – ۴۳)

۴۶ بیا هغوی اریحا ته راغلل او کله چې عیسی د خپلو شاګردانو او ګڼ شمېر خلکو سره د ښار
څخه وتلو نو يو ړوند سوالګر چې بارتیماوس نومېده او د تیماوس زوی ؤ د سړک په غاړه ناست
ؤ. ۴۷ کله چې هغه خبر شو چې دا ناصري عیسی دی نو په چیغو وهلو يې پیل وکړ: «ای عیسی،
د داود زویه! په ما باندې رحم وکړه.» ۴۸ ډېرو خلکو هغه ورټلو او ورته ویې ویل چې غلی شه،
خو هغه نورې هم چیغې وهلې: «ای د داود زویه، په ما باندې رحم وکړه.» ۴۹ عیسی ودرېده او
ویې ویل: «هغه ته غږ وکړئ چې راشي.» هغوی هغه ړوند سړي ته غږ وکړ او ورته ویې ویل:
«خوشحاله اوسه، پاڅېږه، هغه دې غواړي.» ۵۰ نو هغه خپله چپنه يوې خواته وغورځوله، د خپل
ځای څخه راپورته شو او عیسی ته راغی. ۵۱ عیسی هغه ته وویل: «زما څخه څه غواړې چې
درته ویې کړم؟» هغه ړوند سړي ځواب ورکړ: «زما استاذه، زه غواړم چې بېرته بینا شم.» ۵۲
عیسی هغه ته وویل: «ځه، ته خپل ایمان روغ کړې.» نو سمدلاسه هغه بینا شو او په عیسی پسې
روان شو.

## عیسی په بریالیتوب سره اورشلیم ته ننوځي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۲۱: ۱ - ۱۱ او لوقا ۱۹: ۲۸ - ۴۰ او یوحنا ۱۲: ۱۲ - ۱۹)

۱۱ ۱ کله چې عیسی او د هغه شاګردان اورشلیم ته نژدې شول او بیت فاجي او بیت عنیا ته
چې د زیتون په غره کې وو ورسېدل، نو عیسی خپل دوه شاګردان ولېږل ۲ او هغوی ته یې
وویل: «مخامخ کلي ته ورشئ. څنګه چې هلته ورننوتلئ نو هلته به یو کوټی ووینئ چې تړل شوی
به وي او تر اوسه پورې څوک ورباندې سپور شوی نه دی. هغه را ایله کړئ او دلته یې راولئ. ۳
که څوک درڅخه پوښتنه وکړي: دا څه کوئ؟ نو ورته ووایئ چې هغه زمونږ د استاذ په کار دی او
سمدلاسه به یې بېرته دلته راولېږي.»

۴ هغوی لاړل او دباندې په کوڅه کې یې یو کوټی ولید چې د دروازې په مخکې تړل شوی ؤ.
کله چې هغوی هغه کوټی راخلاصولو، ۵ نو ځینې خلک چې په هغه ځای کې ولاړ وو، د هغوی
څخه پوښتنه وکړه: «دا کوټی ولې ایله کوئ؟» ۶ نو لکه څنګه چې عیسی ورته ویلي وو، دوی
ورته هماغسې ځواب ورکړ او بیا یې هغوی پرېښودل چې لاړ شي. ۷ هغوی هغه کوټی عیسی
ته راوست او خپلې چپنې یې ورباندې واچولې او عیسی ورباندې سپور شو. ۸ ډېرو خلکو ورته
په لاره کې خپل کالي وغوړول او نورو د ونو څانګې راپرې کړلې او په لاره کې یې ورته واچولې.
۹ او کوم خلک چې د هغه څخه مخکې روان وو او هغه چې شاته ورپسې روان وو، چیغې
وهلې: «ژوندی دې وي! مبارک دې وي هغه څوک چې د څښتن په نوم راځي. ۱۰ مبارکه دې
وي زمونږ د نیکه داود راتلونکې پاچاهي. ثنا دې وي څښتن تعالی ته.»

۱۱ عیسی اورشلیم ته ورسېده او د خدای کور ته ننوت او هلته شاوخوا ټولو شیانو ته یې وکتل.
خو څرنګه چې ناوخته وه نو د هغو دولسو شاګردانو سره بیت عنیا ته لاړ.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## عیسی د انځر په ونې لعنت وایي

(متي ۲۱: ۱۸ – ۱۹)

۱۲ په بله ورځ کله چې عیسی او شاګردان یې د بیت عنیا څخه راروان وو نو عیسی وږی شو.
۱۳ هغه له لېرې نه د انځر یوه ونه ولیدله چې په پاڼو کې پټه وه، هغه ورغی چې څه انځر په کې
پیدا کړي. خو کله چې هلته ورسېده نو بې له پاڼو یې په کې بل هېڅ شی ونه موندل، ځکه چې دا د
انځرانو د پخېدلو موسم نه ؤ. ۱۴ نو هغې ونې ته یې وویل: «نور به هېڅوک هم هېڅکله ستا مېوه
ونه خوري.» او د هغه شاګردانو واورېدل چې هغه څه وویل.

## عیسی د خدای د کور نه سوداګران شړي

(متي ۲۱: ۱۲ – ۱۷ او لوقا ۱۹: ۴۵ – ۴۸ او یوحنا ۲: ۱۳ – ۲۲)

۱۵ کله چې هغوی اورشلیم ته ورسېدل، نو عیسی د خدای کور ته ننوت او له هغه ځای څخه یې
د خرڅوونکو او اخیستونکو په شړلو پیل وکړ. د صرافانو مېزونه او د کوترو خرڅوونکو چوکۍ ګانې
یې په بل مخ واړولې، ۱۶ او چاته یې اجازه نه ورکوله چې د خدای د کور د حوېلۍ په لاره کوم
شی یوسي. ۱۷ بیا هغه خلکو ته تعلیم ورکاوه او ویل یې: «ایا د خدای په کلام کې دا نه دي لیکل
شوي: ‹زما کور به د ټولو قومونو دپاره د عبادت ځای بلل کیږي،› خو تاسو ترې د غلو د پټېدلو
ځای جوړ کړی دی.»

۱۸ مشرانو کاهنانو او د شریعت عالمانو چې دا واورېدل نو په دې لټه کې شول چې د عیسی د
وژلو دپاره کومه لاره پیدا کړي. خو هغوی وېرېدل، ځکه چې ټول خلک د هغه تعلیم ته حیران وو.

۱۹ کله چې ماښام شو نو عیسی او شاګردان یې د ښار څخه ووتل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د انځر د ونې څخه عبرت اخیستل

(متي ۲۱: ۲۰– ۲۲)

۲۰ بله ورځ سهار وختي کله چې هغوی په لاره تېرېدل نو ويې ليدل چې هغه د انځر ونه له بېخه
وچه شوې وه. ۲۱ پطروس هغه خبره رایاده کړه چې عیسی د انځر ونې ته کړې وه او ويې ویل:
«استاذه! ګوره، د انځر په هغې ونې چې تا لعنت ويلی ؤ هغه وچه شوې ده.»

۲۲ عیسی ورته په ځواب کې وویل: «په خدای باندې ایمان ولرئ. ۲۳ په يقين سره زه تاسو ته
دا وایم چې که څوک ایمان ولري او په زړه کې شک ونه کړي نو که دې غره ته ووايي چې د خپل
ځای څخه پورته شه او په درياب کې وغورځېږه نو همداسې به وشي. ۲۴ نو له دې امله زه تاسو
ته وایم هرڅه چې تاسو يې په دعا کې وغواړئ نو يقين ولرئ چې لاسته به يې راوړئ او هغه به
ستاسو شي. ۲۵ او هرکله چې تاسو د دعا دپاره ودرېږئ نو که ستاسو په زړونو کې د چا په
خلاف کوم څه شي وي هغه وبخښئ ترڅو ستاسو اسماني پلار هم ستاسو ګناهونه وبخښي. ۲۶
[خو که چېرې تاسو نور خلک ونه بخښئ، نو ستاسو اسماني پلار به هم ستاسو ګناهونه ونه
بخښي.]»

## د عیسی د اختیار په هکله پوښتنه

(متي ۲۱: ۲۳– ۲۷ او لوقا ۲۰: ۱– ۸)

۲۷ هغوی یوځل بيا اورشليم ته راغلل. کله چې عیسی د خدای په کور کې ګرځېده، نو مشران
کاهنان، د شریعت عالمان او د قوم مشران ورته راغلل ۲۸ او د هغه څخه يې پوښتنه وکړه: «ته
څه حق لرې چې دا کارونه کوې؟ چا تاته دا اختیار درکړی دی چې دا کارونه وکړې؟» ۲۹
عیسی ځواب ورکړ: «زه هم ستاسو څخه یوه پوښتنه کوم او که تاسو ځواب راکړ نو زه به هم درته

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ووایم چې زه په کوم اختیار سره دا کارونه کوم. ۳۰ د یحیی د تعمید غسل ورکول د خدای له خوا
ؤ یا د انسان له خوا؟ ځواب راکړئ.»

۳۱ هغوی په خپل منځ کې سره بحث وکړ او ویل یې: «که چېرې ووایو چې د خدای له خوا ؤ نو
هغه به ووایي چې بیا تاسو ولې په هغه باندې ایمان رانه وړ؟ ۳۲ خو که ووایو چې د انسان له
خوا ؤ، نو بیا به څه وشي؟» (هغوی د خلکو څخه وېرېدل، ځکه چې ټولو خلکو یحیی پیغمبر
ګڼلو.) ۳۳ نو هغوی عیسی ته په ځواب کې وویل: «مونږ نه پوهېږو.» عیسی ورته وویل: «نو زه
هم تاسو ته نه وایم چې په کوم اختیار دا کارونه کوم.»

## د انګورو د باغ د اجارې مثال

(متي ۲۱: ۳۳ – ۴۶ او لوقا ۲۰: ۹ – ۱۹)

**۱۲** ۱ بیا عیسی هغوی ته په مثالونو کې خبرې پیل کړې: «یو سړي د انګورو باغ جوړ کړ او
دېوال یې ورڅخه تاو کړ، د انګورو د شربت د ویستلو دپاره یې په کې یو ځای جوړ کړ او د څارنې
دپاره یې په کې یو برج هم جوړ کړ. بیا یې هغه باغوانانو ته په اجاره ورکړ او خپله په سفر روان
شو. ۲ کله چې د انګورو د راټولولو وخت راورسېد نو هغه خپل یو نوکر باغوانانو ته ورولېږه
چې خپله برخه انګور ترې واخلي. ۳ خو باغوانانو هغه نوکر ونیوه، هغه یې وواهه او تش لاس
یې بېرته ولېږه. ۴ بیا هغه یو بل نوکر ورولېږه. هغه یې هم په سر سر وواهه او بې عزته یې کړ.
۵ بیا هغه بل نوکر ورولېږه او هغه یې مړ کړ. هغه نور ډېر نوکران هم ورولېږل، خو ځینې یې
ووهل او ځینې یې مړه کړل. ۶ یوازېنی کس چې ورته پاتې ؤ چې ور ویې لېږي هغه یې خپل
ګران زوی ؤ. په پای کې یې هغه ورولېږه او د ځان سره یې وویل: ‹هغوی به زما د زوی لحاظ
وکړي.› ۷ خو باغوانانو یو بل ته وویل: ‹دا یې وارث دی، راځئ چې مړ یې کړو او میراث به
یې زمونږ شي.› ۸ نو هغوی هغه ونیوه او مړ یې کړ او د هغه مړی یې د انګورو د باغ څخه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دباندې وغورځاوه.»

٩ عیسی پوښتنه وکړه: «د باغ خاوند به اوس څه کوي؟ هغه به راشي او باغوانان به ووژني او
باغ به نورو ته ورکړي. ١٠ ایا تاسو د خدای په کلام کې دا نه دي لوستلي:

کومه تیږه چې معمارانو رد کړه،

هغه اوس د تهداب اصلي تیږه شوه.

١١ دا کار د څښتن له خوا وشو

او زمونږ په نظر کې حیرانوونکی ښکاري.»

١٢ د یهودیانو مشرانو هڅه کوله چې عیسی ونیسي، ځکه چې هغوی پوه شول چې هغه دا مثال د
هغوی په هکله وویلو. خو هغوی د خلکو څخه وېرېدل، نو هغه یې پرېښود او لاړل.

## د مالیې ورکولو په هکله پوښتنه

(متي ۲۲: ۱۵– ۲۲ او لوقا ۲۰: ۲۰– ۲۶)

١٣ بیا هغوی ځینې فریسیان او د هیرودیس پلویان ولېږل چې عیسی په خپلو خبرو کې راونیسي.
١٤ هغوی راغلل او عیسی ته یې وویل: «استاذه! مونږ پوهېږو چې ته یو رښتینی سړی یې او د
هیچا طرفداري نه کوې که هغه هرڅوک وي بلکې په رښتیني توګه د خدای د لارې تعلیم ورکوې.
ایا د روم امپراتور ته مالیه ورکول روا دي که نه؟ مونږ باید ورته مالیه ورکړو که نه؟» ١٥ خو
عیسی د هغوی په منافقت پوه شو او ورته ویې ویل: «تاسو ولې هڅه کوئ چې ما وازمایئ؟ ماته د
سپینو زرو یوه سکه راوړئ چې ویې ګورم.» ١٦ هغوی یوه سکه راوړله او هغه ترې پوښتنه وکړه:

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

«په دې باندې د چا تصویر او د چا نوم دی؟» هغوی ځواب ورکړ: «د امپراتور.» ١٧ بیا عیسی
هغوی ته وویل: «څه چې د امپراتور دي هغه امپراتور ته ورکړئ او څه چې د خدای دي هغه
خدای ته ورکړئ.» هغوی د هغه په خبرو حیران شول.

## د قیامت د ورځې په هکله پوښتنه

(متي ۲۲: ۲۳– ۳۳ او لوقا ۲۰: ۲۷– ۴۰)

١٨ بیا صدوقیان چې د مرګ څخه وروسته د بیا راژوندي کېدلو څخه منکر وو، عیسی ته راغلل
او د هغه څخه يې یوه پوښتنه وکړه: ١٩ «استاذه! موسی په شریعت کې مونږ ته لیکلي دي چې که
چېرې د یو سړي ورور مړ شي او بې اولاده ښځه ترې پاتې شي نو د هغه سړي ورور باید د هغې
کونډې سره واده وکړي ترڅو اولادونه يې پیدا شي او هغوی د هغه د مړه ورور اولادونه وګڼل شي.
٢٠ په یو وخت کې اووه ورونه وو، لومړني يې واده وکړ او بې اولاده مړ شو. ٢١ بیا دوهم ورور
د هغې ښځې سره واده وکړ، خو هغه هم بې اولاده مړ شو او د درېیم ورور سره هم همداسې وشول.
٢٢ اخر اووه واړه مړه شول او د هیڅ یو اولاد ونه شو. له ټولو نه وروسته هغه ښځه هم مړه شو.
٢٣ نو د قیامت په ورځ چې خلک راژوندي کیږي هغه به د کوم یو ښځه وي؟ ځکه چې اووه
واړو ورسره واده کړی ؤ.»

٢٤ عیسی هغوی ته وویل: «ستاسو غلطي په دې کې ده چې نه د خدای په کلام پوهېږئ او نه د
خدای د قدرت څخه خبر یئ. ٢٥ کله چې مړي راژوندي شي نو نه خو سړي وادونه کوي او نه
هم ښځې ورکول کیږي چې واده شي، بلکې هغوی به د اسمان د فرښتو په شان وي. ٢٦ ایا تاسو
د مړو د بیا راژوندي کېدلو په هکله د موسی په تورات کې د سوځېدونکي بوټي په کیسه کې نه دي
لوستلي چې خدای څنګه موسی ته وویل: ‹زه د ابراهیم خدای، د اسحاق خدای او د یعقوب خدای
یم.› ٢٧ خدای د مړو خدای نه بلکې د ژوندیو خدای دی. تاسو ډېر بې لارې شوي یئ.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## لوی حکم

(متي ۲۲: ۳۴ – ۴۰ او لوقا ۱۰: ۲۵ – ۲۸)

۲۸ د شریعت یو عالم راغی او د هغوی بحث یې واورېد او ویې لیدل چې عیسی صدوقیانو ته ښه
ځواب ورکړ، نو د عیسی څخه یې پوښتنه وکړه: «د ټولو حکمونو څخه ډېر مهم حکم کوم یو دی؟»
۲۹ عیسی ځواب ورکړ: «تر ټولو مهم حکم دا دی: ‹ای د اسراییلو خلکو، واورئ! یوازېنی خدای
چې وجود لري هغه زمونږ څښتن خدای دی.› ۳۰ د خپل څښتن خدای سره د زړه له کومي، په
خپل ټول روح، خپل ټول عقل او خپل ټول قوت سره مینه کوئ. ۳۱ دوهم حکم دا دی: ‹د خپل
ګاونډي سره د خپل ځان په شان مینه کوه.› د دې حکمونو څخه بل لوی حکم نشته.»

۳۲ د شریعت هغه عالم عیسی ته وویل: «استاذه، تا ښه وویل، تا رښتیا وویل چې خدای یو دی
او له هغه پرته بل خدای نشته. ۳۳ د خدای سره د زړه له کومي، ټولې پوهې او په ټول قوت سره
مینه کول او د خپل ځان په شان د خپل ګاونډي سره مینه کول د ټولو سوځېدونکو نذرانو او قربانیو
څخه ډېر مهم دي.» ۳۴ کله چې عیسی ولیدل چې هغه په هوښیارۍ سره ځواب ورکړ نو هغه ته
یې وویل: «ته د خدای له پاچاهۍ څخه لېرې نه یې.» له هغې وروسته بیا هېچا دا جرات ونه کړ
چې له عیسی څخه نورې پوښتنې وکړي.

## مسیح د داود نه لوی دی

(متي ۲۲: ۴۱ – ۴۶ او لوقا ۲۰: ۴۱ – ۴۴)

۳۵ کله چې عیسی د خدای په کور کې تعلیم ورکاوه نو ویې ویل: «د شریعت عالمان څنګه
کولای شي ووایي چې مسیح د داود زوی دی؟ ۳۶ داود په خپله د روح القدس په وسیله ویلي
دي: ‹څښتن زما بادار ته وویل: "زما ښي لاس ته کېښېنه ترڅو ستا دښمنان کړم ستا تر پښو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

لاندې.“› ٣٧ داود په خپله مسيح ته څښتن وايي، نو بيا څنګه کېدای شي چې مسيح د داود زوی
وي؟»

ګڼ شمېر خلکو په شوق سره د هغه خبرې اورېدلې.

## د شريعت د عالمانو په خلاف خبرداری

(متي ٢٣: ١ – ٣٦ او لوقا ٢٠: ۴۵ – ۴٧)

٣٨ عيسی د تعليم ورکولو په وخت کې وويل: «د شريعت د عالمانو څخه ځان ساتئ. هغوی دا
خوښوي چې په اوږدو چپنو کې وګرځي او په بازارونو کې ورته خلک سلام واچوي ٣٩ او په
کنيسو کې په مخکې ځايونو او په مېلمستياوو کې په ښو ځايونو کې کښېني. ۴٠ هغوی د کونډو
مالونه خوري او د ځان ښودنې دپاره اوږدې اوږدې دعاګانې کوي. د داسې خلکو سزا به د نورو نه
سخته وي.»

## د يوې کونډې ښځې نذرانه

(لوقا ٢١: ١ – ۴)

۴١ عيسی د خدای د کور خزانې ته مخامخ ناست ؤ او کتل يې چې خلکو څنګه په هغې کې
پيسې اچولې. ډېرو شتمنو خلکو زياتې پيسې واچولې. ۴٢ بيا يوه غريبه کونډه ښځه راغله او دوه
سکې چې شاوخوا دوه روپۍ کېدلې په کې واچولې. ۴٣ عيسی خپل شاګردان راوغوښتل او ورته
ويې ويل: «په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې دې غريبې کونډې د خدای د کور په خزانه کې د
نورو ټولو نه زياتې پيسې واچولې. ۴۴ ځکه چې هغوی ټولو هغه پيسې واچولې چې د هغوی د
اړتياوو څخه زياتې وې، خو سره له دې چې هغه غريبه وه نو څه چې يې لرل او هرڅه چې هغې
ورباندې خپل ژوند تېراوه، هغه يې ورکړل.»

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د خدای د کور د ورانېدلو پېشګويي

(متي ۲۴: ۱ – ۲ او لوقا ۲۱: ۵ – ۶)

۱۳ ۱ کله چې عیسی د خدای د کور څخه وتلو، نو یو شاګرد یې ورته وویل: «ګوره استاذه،
خومره ښکلې تیږې او ښکلې ودانۍ دي.» ۲ عیسی هغه ته وویل: «ته دا لویې لویې ودانۍ
وینې؟ دلته به یوه تیږه هم د بلې تیږې دپاسه پاتې نه شي او ټولې به راونړیږي.»

## په ایمان کې تر اخره ټینګ پاتې شئ

۳ عیسی د زیتون په غره کې د خدای کور ته مخامخ ناست ؤ نو کله چې پطروس، یعقوب،
یوحنا او اندریاس د هغه سره یوازې پاتې شول نو د هغه څخه یې پوښتنه وکړه: ۴ «مونږ ته
ووایه چې دا هرڅه به کله پېښ شي او د دې ټولو کارونو د پوره کېدلو نښه به څه وي؟»

۵ عیسی هغوی ته وویل: «پام کوئ چې څوک مو بې لارې نه کړي. ۶ ډېر به زما په نوم
راشي او وایي به: ‹زه مسیح یم› او ډېر خلک به بې لارې کړي. ۷ کله چې تاسو د جنګونو په
هکله خبرېږئ او د جنګونو اوازې واورئ، نو مه وارخطا کېږئ. دا شیان به خامخا پېښیږي. خو دا د
دې معنی نه لري چې اخرنی وخت رارسېدلی دی. ۸ یو قوم به د بل قوم سره او یوه پاچاهي به
د بلې پاچاهۍ سره جنګیږي. د نړۍ په ډېرو ځایونو کې به زلزلې وشي او قحطې به راشي او دا
شیان به لکه د لنګون د دردونو د شروع کېدلو په شان وي.

۹ خو تاسو په خپلو ځانونو باندې پام کوئ. تاسو به د محاکمې دپاره شوراګانو ته ورسپارل
کېږئ، په کنیسو کې به وهل کېږئ او زما په خاطر به د والیانو او پاچاهانو په مخکې درول کېږئ
ترڅو د هغوی په مخکې شاهدي ورکړئ. ۱۰ خو مخکې له دې چې اخري وخت راورسیږي نو

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

اول باید ټولو قومونو ته زیری ورسول شي. ۱۱ نو کله چې تاسو ونیول شئ او محکمې ته یووړل
شئ نو مخکې له مخکې مه پرېشانه کېږئ چې څه به وایئ، بلکې څه چې په هغه ساعت کې د روح
القدس په وسیله تاسو ته ویل کیږي ووایئ، ځکه چې هغه به ستاسو خبرې نه، بلکې د روح القدس
خبرې وي. ۱۲ ورور به د ورور سره خیانت وکړي چې ووژل شي او پلار به د خپلو اولادونو
سره. اولادونه به د خپلو میندو او پلرونو په خلاف راپورته شي او د هغوی د مړینې سبب به شي.
۱۳ ټول خلک به زما د نوم له امله ستاسو څخه کرکه کوي. خو څوک چې تر اخره پورې ټینګ
پاتې شي، هغه به خلاصون ومومي.

## لوی مصیبت

(متي ۲۴: ۱۵أ– ۲۸ او لوقا ۲۱: ۲۰أ– ۲۴)

۱۴ کله چې تاسو هغه نجس شی چې د بربادۍ سبب ګرځي، په هغه ځای کې ولاړ ووینئ چې
باید هلته نه وي، (لوستونکی دې پوه شي چې د دې معنی څه ده) نو څوک چې په یهودیې کې وي
هغه دې غرونو ته وتښتي. ۱۵ که څوک د بام په سر وي نو هغه دې د کوم شي د وړلو دپاره
لاندې رانښکته نه شي او خپل کور ته دې نه ننوځي. ۱۶ او که څوک په پټي کې وي نو هغه دې د
خپلې چپنې پسې بېرته کور ته نه ورځي. ۱۷ افسوس د هغو ښځو په حال چې په هغو ورځو کې
امیدوارې وي یا په هغو ښځو چې خپلو ماشومانو ته شیدې ورکوي. ۱۸ دعا کوئ چې دا شیان په
ژمي کې پېښ نه شي. ۱۹ ځکه چې په هغو ورځو کې به داسې مصیبت رامنځته شي چې د کوم
وخت نه چې خدای نړۍ پیدا کړې ده تر اوسه پورې نه دی راغلی او نه به بیا راشي. ۲۰ که
چېرې خدای دغه راتلونکې ورځې لنډې کړې نه وای نو هېڅوک به ژوندی پاتې نه وای. خو هغه د
خپلو غوره شویو خلکو په خاطر هغه ورځې لنډې کړې دي. ۲۱ که په هغه وخت کې څوک تاسو
ته ووایي: ‹وګورئ، مسیح دلته دی یا هلته دی.› نو باور ورباندې مه کوئ. ۲۲ ځکه چې داسې
کسان به پیدا شي چې په دروغو به دعوه کوي چې مسیح او پیغمبران دي او معجزې به وښایي او

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

حیرانوونکي کارونه به کوي، او که امکان ولري نو د خدای غوره شوي خلک به هم بې لارې کړي.
٢٣ نو پام کوئ، تاسو مې له مخکې نه د دې ټولو شیانو نه خبر کړئ.

## د انسان د زوی راتګ

(متي ٢۴: ٢٩ – ٣١ او لوقا ٢١: ٢۵ – ٢٨)

٢۴ خو په هغو ورځو کې به د هغه مصیبت نه وروسته لمر تیاره شي او سپوږمۍ به نوره رڼا نه
ورکوي، ٢۵ ستوري به د اسمان څخه راولوېږي او اسماني موجودات به ولړزیږي. ٢۶ بیا به
هغوی ووینې چې د انسان زوی به د لوی قدرت او جلال سره په ورېځو کې راروان وي. ٢٧ هغه
به فرښتې ولېږي او د ټولې نړۍ د یو سر نه تر بل سر پورې به خپل غوره شوي خلک سره راټول
کړي.

## د انځر د ونې نه عبرت اخیستل

(متي ٢۴: ٣٢ – ٣۵ او لوقا ٢١: ٢٩ – ٣٣)

٢٨ د انځر د ونې څخه عبرت واخلئ. کله چې د هغې څانګې غوټۍ ونیسي او پاڼې وکړي نو
تاسو پوهېږئ چې اوړی رانژدې دی. ٢٩ په همدې ډول کله چې تاسو دا شیان ووینئ نو پوه شئ
چې هغه وخت نژدې دی بلکې رارسېدلی دی. ٣٠ په یقین سره زه تاسو ته دا وایم چې دا نسل به
تر هغې پورې له منځه لاړ نه شي ترڅو دا ټولې پېښې رامنځته شوې نه وي. ٣١ ځمکه او اسمان
به له منځه لاړ شي خو زما خبرې به هېڅکله له منځه لاړې نه شي.

## نامعلومه ورځ او وخت

(متي ٢۴: ٣۶ – ۴۴)

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۲ خو د هغې ورځې او هغه ساعت نه هېڅوک خبر نه دي، نه د اسمان فرښتې او نه زوی، يوازې
پلار پرې خبر دی. ۳۳ پام کوئ او بېداره اوسئ، ځکه چې تاسو نه پوهېږئ چې هغه وخت به کله
راځي. ۳۴ دا د هغه سړي په مثال دی چې د کور نه په سفر روان شي او خپلو نوکرانو ته اختيار
ورکړي چې هر يو دې خپل کار وکړي او د دروازې ساتونکي ته حکم وکړي چې بېدار اوسي. ۳۵
نو تاسو هم بېداره اوسئ، ځکه چې تاسو نه پوهېږئ چې د کور خاوند به کله راځي، ماښام يا په
نيمه شپه کې، په چرګ بانګ يا د لمرخاته په وخت کې، ۳۶ هسې نه چې هغه ناڅاپه راشي او
تاسو په خوب ويده ووينې. ۳۷ زه چې تاسو ته څه وايم، نو هغه ټولو ته وايم: بېداره اوسئ.»

## د عيسی په خلاف دسيسه

(متي ۲۶: ۱ – ۵ او لوقا ۲۲: ۱ – ۲ او يوحنا ۱۱: ۴۵ – ۵۳)

۱۴ ۱ د فسحې او د فطيرې ډوډۍ اختر ته دوه ورځې پاتې وې. مشران کاهنان او د شريعت
عالمان په دې لټه کې وو چې څنګه عيسی په پټه راونيسي او ويې وژني. ۲ هغوی وويل: «خو
دا کار بايد د اختر په ورځو کې ونه شي، هسې نه چې خلک شور او غوغا جوړه کړي.»

## يوه ښځه د عيسی په سر باندې عطر اچوي

(متي ۲۶: ۶ – ۱۳ او يوحنا ۱۲: ۱ – ۸)

۳ عيسی په بيت عنيا کې د شمعون په کور کې چې مخکې يې د جذام ناروغي لرله، دسترخوان
ته ناست ؤ. يوه ښځه راغله او د مرمرو بوتل ورسره ؤ چې د سنبل د قيمتي عطرو څخه ډک ؤ. هغې
د بوتل سر مات کړ او د عيسی په سر باندې يې واچول. ۴ په هغه ځای کې د حاضرو خلکو
څخه ځينې يې په قهر شول او يو بل ته يې سره وويل: «دا عطر ولې داسې بېځايه لاړ شي؟ ۵
کېدای شول چې دا عطر د سپينو زرو د درې سوه سکو څخه په زياته بيه خرڅ شوي وای او پيسې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

يې غريبانو ته ورکړل شوې واى.» نو هغوى هغه ښځه ورټله. ۶ خو عيسىوويل: «د هغې سره
کار مه لرئ! هغه ولې تنګوئ؟ هغې زما سره ښه کار کړى دى. ۷ غريبان به تل ستاسو سره وي
او هر وخت چې وغواړئ د هغوى سره مرسته کولاى شئ، خو زه به تل ستاسو سره نه يم. ۸
دې ښځې چې څه کولاى شول ويې کړل. هغې زما په بدن باندې عطر واچول چې د ښخولو څخه
مې مخکې تيار کړي. ۹ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې د نړى په هرځاى کې چې زيرى
ورکول کيږي نو دې ښځې چې څه کړي دي خلک به هغه يادوي.»

## د عيسى سره د خيانت کولو دسيسه

(متي ۲۶: ۱۴ – ۱۶ او لوقا ۲۲: ۳ – ۶)

۱۰ بيا يهودا اسخريوتي چې د هغو دولسو شاګردانو څخه ؤ، مشرانو کاهنانو ته ورغى چې عيسى
هغوى ته په لاس ورکړي. ۱۱ کله چې هغوى دا واوريدل نو خوشحاله شول او د هغه سره يې د
پيسو وعده وکړه. نو يهودا د يوې موقعې په لټه کې ؤ ترڅو عيسى هغوى ته په لاس ورکړي.

## د فسحې د اختر ډوډى

(متي ۲۶: ۱۷ – ۲۵ او لوقا ۲۲: ۷ – ۱۴، ۲۱ – ۲۳ او يوحنا ۱۳: ۲۱ – ۳۰)

۱۲ د فطيرې ډوډى د اختر په لومړى ورځ يعنې په هغه ورځ چې هغوى د فسحې ورى قرباني
کاوه، د عيسى شاګردانو هغه ته وويل: «ته چېرته غواړې چې د فسحې ډوډى درته تياره کړو؟»
۱۳ نو عيسى خپل دوه شاګردان وليږل او ورته ويې ويل: «ښار ته لاړ شئ، يو سړى به ووينئ
چې د اوبو منګى وړي. د هغه پسې لاړ شئ ۱۴ او کوم کور ته چې هغه ورننوت، تاسو هم ورشئ
او د کور خاوند ته ووايئ: ‹استاذ وايي د مېلمنو هغه کوټه چېرته ده چې زه او زما شاګردان به په کې
د فسحې ډوډى وخورو؟› ۱۵ هغه به تاسو ته پاس په بالاخانه کې يوه لويه فرش شوې کوټه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

دروښايي. هلته زمونږ دپاره ډوډۍ تياره کړئ.» ۱۶ بيا شاګردان روان شول او ښار ته لاړل نو
هغوی ټول شيان هماغه شان وليدل لکه څنګه چې عيسی ورته ويلي وو، نو هغوی د فسحې ډوډۍ
تياره کړه. ۱۷ کله چې ماښام شو نو عيسی د دولسو شاګردانو سره راغی. ۱۸ کله چې هغوی
دسترخوان ته کښېناستل او ډوډۍ يې خوړله، عيسی وويل: «په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې په
تاسو کې به يو تن چې زما سره ډوډۍ خوري، زما سره خيانت وکړي.» ۱۹ په دې خبره شاګردان
ډېر غمجن شول او هر يو د عيسی څخه پوښتنه وکړه: «ايا هغه زه يم؟» ۲۰ عيسی هغوی ته
ځواب ورکړ: «هغه ستاسو دولسو تنو څخه دی چې زما سره په يوه کاسه کې لاس ښکته کوي.
۲۱ لکه څنګه چې د خدای په کلام کې ليکل شوي دي، د انسان زوی بايد مړ شي، خو افسوس د
هغه چا په حال چې د انسان د زوی سره خيانت کوي! د هغه سړي دپاره به ښه وه چې هېڅ پيدا
شوی نه وای.»

## د څښتن غوره ماښامی

(متي ۲۶: ۲۶ – ۳۰ او لوقا ۲۲: ۱۴ – ۲۰ او لومړی قرنتيان ۱۱: ۲۳ – ۲۵)

۲۲ د ډوډۍ خوړلو په وخت کې عيسی يوه ډوډۍ راواخيستله، شکر يې پرې وويست، هغه يې
ماته کړه، شاګردانو ته يې ورکړه او ويې ويل: «دا واخلئ، دا زما بدن دی.» ۲۳ بيا هغه پياله
راواخيستله او د خدای شکر يې وويست او هغوی ته يې ورکړه او د هغې نه ټولو وڅښل. ۲۴
عيسی وويل: «دا زما وينه ده چې د خدای او انسان ترمنځ لوظ ټينګوي چې د ډېرو خلکو دپاره
توييږي. ۲۵ په يقين سره زه تاسو ته دا وايم چې بيا به تر هغې ورځې پورې دا د انګورو شربت
ونه څښم ترڅو د خدای په پاچاهۍ کې يې بيا ونه څښم.» ۲۶ بيا د يوې روحاني سندرې د ويلو
څخه وروسته د زيتون غره ته لاړل.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## د پطروس د انکار په هکله پېشګويي

(متي ۲۶: ۳۱ – ۳۵ او لوقا ۲۲: ۳۱ – ۳۴ او يوحنا ۱۳: ۳۶ – ۳۸)

۲۷ عيسی خپلو شاګردانو ته وويل: «تاسو ټول به وتښتئ او ما به پرېږدئ، ځکه چې د خدای په
کلام کې ليکل شوي دي: زه به شپون ووهم او پسونه به خواره واره شي.

۲۸ خو کله چې بيا راژوندی شم نو ستاسو نه مخکې به جليل ته لاړ شم.» ۲۹ پطروس عيسی
ته وويل: «حتی که ټول تا پرېږدي، خو زه به دې هېڅکله هم پرېنږدم.» ۳۰ عيسی پطروس ته
وويل: «په يقين سره زه تاته دا وايم چې همدا نن شپه به مخکې له دې چې چرګ دوه ځلې اذان
وکړي، ته به درې ځلې ووايې چې ما نه پېژنې.» ۳۱ خو پطروس په ټينګه وويل: «که زه تا سره
مړ هم شم، خو هېڅکله به ونه وايم چې تا نه پېژنم.» او نورو ټولو شاګردانو هم همداسې وويل.

## عيسی په جتسيماني کې دعا کوي

(متي ۲۶: ۳۶ – ۴۶ او لوقا ۲۲: ۳۹ – ۴۶)

۳۲ هغوی د جتسيماني په نوم يو ځای ته ورسېدل نو عيسی خپلو شاګردانو ته وويل: «تاسو دلته
کښېنئ او زه دعا کوم.» ۳۳ بيا هغه پطروس، يعقوب او يوحنا د ځان سره بوتلل. عيسی ډېر
غمجن شو او زړه يې تنګ شو، ۳۴ او هغوی ته يې وويل: «زما زړه له غمه چوي او مرګ ته
نژدې يم. دلته پاتې شئ او بيداره اوسئ.» ۳۵ عيسی لږ لېرې لاړ او په ځمکه پرېوت او دعا يې
وکړه چې که چېرې کېدای شي نو دا د کړاو ساعت دې زما څخه تېر شي. ۳۶ هغه وويل: «ای
زما پلار جانه! ستا دپاره هرڅه ممکن دي. دا پياله زما څخه لېرې کړه، خو زما رضا نه بلکې لکه
څنګه چې ستا رضا وي.» ۳۷ بيا عيسی بېرته شاګردانو ته راغی او ويې ليدل چې هغوی ويده
دي. نو پطروس ته يې وويل: «ای شمعونه، ويده يې؟ ايا يو ساعت هم وينښ نه شوې پاتې کېدلی؟

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

۳۸ بېداره اوسئ او دعا وکړئ چې د وسوسو سره مخامخ نه شئ، زړه غواړي خو بدن کمزوری
دی.» ۳۹ عیسی یوځل بیا لاړ او هماغه دعا یې وکړه. ۴۰ کله چې هغه بېرته راغی نو هغوی
یې بیا په خوب ویده ولیدل، ځکه چې د هغوی سترګې له خوبه ډکې وې او په دې نه پوهېدل چې
هغه ته څه ووایي. ۴۱ کله چې هغه د درېم ځل دپاره راغی نو هغوی ته یې وویل: «تاسو لا ویده
یئ او ارام کوئ؟ بس دی. هغه ساعت رارسېدلی دی چې د انسان زوی به ګناهکارانو ته په لاس
ورکول کېږي. ۴۲ پاځېږئ، راځئ چې ځو، هغه څوک چې غواړي زما سره خیانت وکړي،
رارسېدلی دی.»

## د عیسی سره خیانت او د هغه نیول

(متي ۲۶: ۴۷ – ۵۶ او لوقا ۲۲: ۴۷ – ۵۳ او یوحنا ۱۸: ۳ – ۱۲)

۴۳ عیسی لا خبرې کولې چې سمدلاسه یهودا چې د هغو دولسو شاګردانو څخه ؤ، د یوې ډلې
خلکو سره چې تورې او کوتکونه ورسره وو، راورسېد. هغه د مشرانو کاهنانو، د شریعت د عالمانو
او قومي مشرانو له خوا رالېږل شوی ؤ. ۴۴ هغه خاین هغوی ته یوه نښه ورکړې وه او ورته ویلي
یې وو: «څوک چې زه ښکل کړم نو دا هماغه سړی دی. هغه ونیسئ او تر پوره څارنې لاندې یې
بوځئ.» ۴۵ کله چې یهودا راورسېد نو سمدلاسه عیسی ته ورغی او ورته وېې ویل: «استاذه!» او
هغه یې ښکل کړ. ۴۶ نو هغوی عیسی ته لاس ورواچاوه او هغه یې ونیوه. ۴۷ بیا د هغو کسانو
څخه چې هلته ولاړ وو یو یې توره راوویستله او د لوی کاهن په نوکر یې ګوزار وکړ او د هغه غوږ
یې پرې کړ. ۴۸ بیا عیسی هغوی ته وویل: «ایا زه کوم داړه مار یم چې د تورو او کوتکونو سره
زما د نیولو دپاره راغلي یئ؟ ۴۹ زه هره ورځ تاسو سره د خدای په کور کې وم او تعلیم به مې
ورکاوه او تاسو زه ونه نیولم، خو د خدای کلام چې څه وایي هغه باید پوره شي.» ۵۰ بیا ټولو
شاګردانو هغه پرېښود او وتښتېدل. ۵۱ په دې وخت کې یو ځوان چې د کتان یوه ټوټه یې د ځان
څخه تاوه کړې وه، د عیسی پسې روان شو. هغوی هغه هم ونیوه، ۵۲ خو هغه خپل کالي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

پرېښودل او لوخ وتښتېده.

## د یهودیانو د شورا له خوا د عیسی محاکمه

(متي ۲۶: ۵۷ – ۶۸ او لوقا ۲۲: ۵۴ – ۵۵، ۶۳ – ۷۱ او یوحنا ۱۸: ۱۳ – ۱۴، ۱۹ – ۲۴)

۵۳ هغوی عیسی لوی کاهن ته بوتو او هلته مشران کاهنان، قومي مشران او د شریعت عالمان سره
راټول شوي وو. ۵۴ پطروس د لوی کاهن تر حوېلۍ پورې د هغه پسې شاته شاته روان ؤ او دننه
ورغی او هلته د ساتونکو سره کېښېناست او اور ته یې ځان تودولو. ۵۵ مشرانو کاهنانو او ټولې
شورا هڅه کوله چې د عیسی په خلاف کوم ثبوت پیدا کړي ترڅو هغه ووژل شي، خو هغوی کوم
ثبوت پیدا نه کړ. ۵۶ ډېرو خلکو د هغه په خلاف په دروغو شاهدي ورکړه، خو د هغوی شهادت
د یو بل سره یوشان نه ؤ. ۵۷ بیا ځیني خلک پاڅېدل او د هغه په خلاف یې داسې د دروغو
شاهدي ورکړه: ۵۸ «مونږ د هغه د خولې نه واورېدل چې ویې ویل: زه به دا د خدای کور چې د
انسانانو په لاس جوړ شوی دی ورانوم او په درې ورځو کې به بل داسې کور جوړ کړم چې هغه به
د انسانانو په لاسونو نه وي جوړ شوی.» ۵۹ خو بیاهم د دې خلکو شاهدي سره یوشان نه وه.
۶۰ بیا لوی کاهن د هغوی ټولو په مخکې ودرېده او د عیسی څخه یې پوښتنه وکړه: «ایا ته دې
تورونو ته چې هغوی یې درباندې لګوي، ځواب نه ورکوې؟» ۶۱ خو عیسی غلی پاتې شو او
هېڅ ځواب یې ورنه کړ. یوځل بیا لوی کاهن ترې پوښتنه وکړه: «ایا ته مسیح، د مبارک خدای زوی
یې؟» ۶۲ عیسی وویل: «هو، زه یم او تاسو به د انسان زوی ووینئ چې د مطلق قادر خدای ښي
لاس ته به ناست وي او د اسمان په ورېځو کې به راروان وي.» ۶۳ لوی کاهن خپل کالي وشکول
او ویې ویل: «مونږ نورو شاهدانو ته څه اړتیا لرو؟ ۶۴ تاسو دا کفر ویل واورېدل. ستاسو پرېکړه
څه ده؟» نو هغوی ټولو هغه محکوم کړ او ویې ویل چې هغه د مرګ لایق دی. ۶۵ ځینو خلکو
ورباندې لاړې ورتو کړې او سترګې یې ورته وتړلې او په سوکانو یې واهه او ورته ویل یې: «اوس
له غیبو ووایه چې ته چا ووهلې.» بیا ساتونکو هغه ونیوه او ویې واهه.

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## پطروس له عیسی څخه انکار کوي

(متي ۲۶: ۶۹ – ۷۵ او لوقا ۲۲: ۵۶ – ۶۲ او یوحنا ۱۸: ۱۵ – ۱۸، ۲۵ – ۲۷)

۶۶ په دې وخت کې پطروس لاندې په حویلۍ کې ؤ چې د لوی کاهن یوه وینځه راغله ۶۷ او
ویې لیدل چې پطروس اور ته خپل ځان تودوي، نو هغې ورته په ځیر سره وکتل او ویې ویل: «ته
هم د عیسی ناصري سره وې.» ۶۸ خو هغه منکر شو او ویې ویل: «زه هغه نه پېژنم او نه پوهېږم
چې ته څه وایې.» بیا هغه دباندې دالان ته ووت او په هماغه وخت کې چرګ اذان وکړ. ۶۹ هغې
وینځې پطروس هلته ولید او په هغه ځای کې ولاړو خلکو ته یې بیا وویل: «دا هم د هغوی د ډلې
څخه دی.» ۷۰ خو پطروس بیا منکر شو. لږه شیبه وروسته حاضرو خلکو یوځل بیا پطروس ته
وویل: «بې له شکه چې ته د هغوی د ډلې څخه یې، ځکه چې ته هم جلیلي یې.» ۷۱ خو
پطروس قسم وخوړ: «که زه دروغ وایم نو په ما دې د خدای لعنت وي، تاسو چې د کوم سړي په
هکله خبرې کوئ زه هغه نه پېژنم.» ۷۲ او سمدلاسه د دوهم ځل دپاره چرګ اذان وکړ. او
پطروس ته ور په یاد شول چې عیسی ورته ویلي وو: «مخکې له دې چې چرګ دوه ځلې اذان
وکړي، نو ته به درې ځلې ووایې چې زه هغه نه پېژنم.» د هغه زړه مات شو او په ژړا شو.

## عیسی د پیلاطوس په حضور کې

(متي ۲۷: ۱ – ۲، ۱۱ – ۱۴ او لوقا ۲۳: ۱ – ۵ او یوحنا ۱۸: ۲۸ – ۳۸)

۱۵ ۱ سهار وختي مشرانو کاهنانو د قومي مشرانو او د شریعت د عالمانو او د شورا نورو ټولو
غړو سره یوه غونډه جوړه کړه او یوه پرېکړه یې وکړه. هغوی عیسی په زنځیرونو وتړلو او روان یې
کړ او پیلاطوس ته یې وسپاره. ۲ پیلاطوس د هغه څخه پوښتنه وکړه: «ایا ته د یهودیانو پاچا
یې؟» عیسی ځواب ورکړ: «ته په خپله وایې.» ۳ مشرانو کاهنانو په هغه باندې زیات تورونه

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ولګول، ۴ نو پیلاتوس د هغه څخه بیا پوښتنه وکړه: «ایا تا سره هېڅ ځواب نشته؟ ګوره هغوی
په تا باندې څومره تورونه لګوي.» ۵ خو عیسی ځواب ورنه کړ، نو په دې باندې پیلاتوس
حیران شو.

## په عیسی باندې د اعدام حکم

(متي ۲۷: ۱۵ – ۲۶ او لوقا ۲۳: ۱۳ – ۲۵ او یوحنا ۱۸: ۳۹ – ۱۹: ۱۶)

۶ پیلاتوس به د فسحې په هر اختر کې د خلکو په غوښتنه یو بندي ازادولو. ۷ په هغه وخت
کې یو سړی چې باراباس نومېده او د یاغیانو سره یې د اله ګولې په وخت کې قتل کړی ؤ بندي ؤ.
۸ خلک پیلاتوس ته ورغلل او د هغه څخه یې وغوښتل چې زمونږ دپاره هغه کار وکړه لکه
څنګه چې هر وخت دې په اختر کې کاوه. ۹ پیلاتوس د هغوی څخه پوښتنه وکړه: «ایا تاسو
غواړئ چې د یهودیانو پاچا درته راخلاص کړم؟» ۱۰ ځکه چې پیلاتوس په دې پوهېده چې
مشرانو کاهنانو د بخیلۍ له امله عیسی هغه ته په لاس ورکړی دی. ۱۱ خو مشرانو کاهنانو خلک
ولمسول چې د پیلاتوس څخه وغواړي چې د عیسی په ځای ورته باراباس ازاد کړي. ۱۲
پیلاتوس یوځل بیا هغوی ته وویل: «نو بیا د هغه سړي سره چې تاسو ورته د یهودیانو پاچا وایئ
څه وکړم؟» ۱۳ هغوی بیا چیغې کړې: «هغه په صلیب باندې ځوړند کړئ.» ۱۴ پیلاتوس د
هغوی څخه پوښتنه وکړه: «ولې، هغه څه جرم کړی دی؟» خو هغوی چیغې نورې هم زیاتې کړې:
«هغه په صلیب باندې ځوړند کړئ.» ۱۵ پیلاتوس غوښتل چې خلک خوشحاله کړي نو باراباس
یې ورته ازاد کړ. بیا یې حکم وکړ چې عیسی په دورو باندې ووهي او هغه دې عسکرو ته وسپاري
چې په صلیب باندې یې ځوړند کړي.

## عسکر په عیسی باندې ملنډې وهي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(متي ۲۷: ۲۷ – ۳۱ او یوحنا ۱۹: ۲ – ۳)

۱۶ عسکرو عیسی دننه د والي ماڼۍ ته بوته او ټول کنډک یې راټول کړ. ۱۷ هغوی عیسی ته
ارغواني چپنه ورواغوستله او د اغزیو تاج یې ور په سر کړ. ۱۸ بیا یې هغه ته سلامي کوله:
«ژوندی دې وي د یهودیانو پاچا.» ۱۹ هغه یې په لرګي باندې په سر سر وهلو او لاړې یې
ورباندې تو کولې او د هغه په مخکې به په ګونډو شول چې دا ونښايي چې ګوندې درناوی یې کوي.
۲۰ کله چې هغوی ملنډې وهل بس کړل، نو هغه ارغواني چپنه یې ترې وویستله او خپل کالي یې
ورته بېرته ورواغوستل. بیا یې هغه دباندې بوته چې په صلیب باندې یې ځوړند کړي.

## عیسی په صلیب باندې مېخ کیږي

(متي ۲۷: ۳۲ – ۳۴ او لوقا ۲۳: ۲۶ – ۴۳ او یوحنا ۱۹: ۱۷ – ۲۷)

۲۱ هغوی په لاره کې د شمعون په نوم د یو سړي سره چې د کلیوالي سیمې څخه ښار ته راروان
ؤ، مخامخ شول. عسکرو هغه مجبور کړ چې د عیسی صلیب یوسي. (شمعون د قیروان څخه ؤ او د
سکندر او روفس پلار ؤ.) ۲۲ هغوی عیسی هغه ځای ته بوته چې د جلجتا په نوم یادېده چې
معنی یې د «سر کوپړۍ» ده. ۲۳ هغه ته یې داسې شراب ورکول چې د مر کنډ په نوم یوه دوا په
کې ګډه شوې وه، خو هغه ونه څښل. ۲۴ بیا هغوی عیسی په صلیب باندې مېخ کړ او پچه یې
واچوله او د هغه کالي په خپل منځ کې سره ووېشل چې کوم شی د چا شي. ۲۵ د سهار نهه بجې
وې چې هغه یې په صلیب باندې ځوړند کړ. ۲۶ په هغه باندې لګول شوی تور چې په یوه تخته
باندې لیکل شوی ؤ: «د یهودیانو پاچا.» ۲۷ د هغه سره یې دوه داړه ماران هم په صلیب باندې
ځوړند کړل، یو د هغه ښي لاس ته او بل چپ لاس ته. [ ۲۸ په دې ډول د پیغمبرانو هغه لیکنې
پوره شوې چې وايي: «هغه په بدکارانو کې وشمېرل شو.»] ۲۹ څوک چې په لاره تېرېدل نو خپل
سرونه به یې خوځول، عیسی ته به یې ښکنځلې کولې او ویل به یې: «واه، تا غوښتل چې د خدای

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

کور وران کړي او په درې ورځو کې يې بېرته جوړ کړې، ۳۰ اوس خپل ځان وژغوره او د صليب څخه راښکته شه.» ۳۱ همدارنګه مشرانو کاهنانو او د شريعت عالمانو په خپل منځ کې په هغه باندې ملنډې وهلې او ويل يې: «هغه نور خلک ژغورل، خو خپل ځان نه شي ژغورلی. ۳۲ پرېږدئ چې مسيح د اسراييلو پاچا اوس د صليب څخه راښکته شي ترڅو مونږ هغه ووينو او ايمان ورباندې راوړو.» هغو دوو کسانو چې د عيسی سره په صليب ځوړند کړای شوي وو هم هغه ته ښکنځلې کولې.

## د عيسی مړينه

(متي ۲۷: ۴۵ – ۵۶ او لوقا ۲۳: ۴۴ – ۴۹ او يوحنا ۱۹: ۲۸ – ۳۰)

۳۳ د غرمې د دولسو بجو څخه د ماسپښين تر درې بجو پورې په ټول وطن کې تياره راخپره شوه. ۳۴ او درې بجې عيسی په لوړ اواز چيغه کړه: «ايلي، ايلي، لما سبقتني؟» چې معنی يې ده: «ای زما خدايه، ای زما خدايه، زه دې ولې پرېښودم؟»

۳۵ ځينې خلک چې هلته نژدې ولاړ وو دا يې واورېدل او ويې ويل: «وګورئ، هغه الياس نبي ته ناري وهي.» ۳۶ د هغوی څخه يو کس منډه کړه او يو اسفنج يې په عادي شرابو کې لوند کړ او هغه يې د لرګي په سر کېښود او عيسی ته يې ورکړ چې ويې څښي او ويې ويل: «صبر وکړئ. پرېږدئ ووينو چې ايا الياس نبي راځي يا نه، چې هغه د صليب څخه راښکته کړي.» ۳۷ بيا عيسی يوه چيغه ووهله او ساه يې ورکړه. ۳۸ د خدای د کور پرده د سر نه تر ښکته پورې وشکېدله او دوه ټوټې شوه. ۳۹ کله چې هغه رومي منصبدار چې عيسی ته مخامخ ولاړ ؤ وليدل چې هغه څنګه ساه ورکړه نو ويې ويل: «دا سړی په رښتيا د خدای زوی ؤ.»

۴۰ په هغه ځای کې يو څو ښځې هم وې چې له لېرې يې کتل. په هغوی کې مريم چې د مجدليې

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د ښار ښځه وه او مریم د کشر یعقوب، یوشا او سالومې مور وه. ۴۱ کوم وخت چې عیسی په
جلیل کې ؤ نو دا ښځې ورسره ملګرې وې او خدمت یې ورته کاوه. ډېرې نورې ښځې چې د هغه
سره اورشلیم ته راغلې وې هم په هغه ځای کې وې.

## د عیسی ښخول

(متي ۲۷: ۵۷ – ۶۱ او لوقا ۲۳: ۵۰ – ۵۶ او یوحنا ۱۹: ۳۸ – ۴۲)

۴۲ دا د جمعې ورځ وه یعنې د سبت څخه یوه ورځ مخکې د اختر دپاره د تیارې نیولو ورځ وه.
څنګه چې ماښام شو، ۴۳ یوسف چې د رامه د ښار څخه ؤ او د شورا یو عزتمن غړی ؤ او د
خدای د پاچاهی د راتللو انتظار یې کاوه، په زړورتیا سره پیلاتوس ته ورغی او د عیسی مړی یې
ترې وغوښت. ۴۴ کله چې پیلاتوس خبر شو چې عیسی مړ شوی دی نو هغه حیران شو. هغه
عسکري منصبدار یې راوغوښت او پوښتنه یې ترې وکړه: «ایا هغه مړ شوی دی؟» ۴۵ کله چې
پیلاتوس د هغه منصبدار له خوا خبر شو چې عیسی وخته مړ شوی دی، نو یوسف ته یې اجازه
ورکړه چې مړی یوسي. ۴۶ نو یوسف د کتان کفن راواخیست، د عیسی مړی یې د صلیب څخه
راښکته کړ، په هغې کې یې تاو کړ او په یو قبر کې چې په یوه تیږه کې کیندل شوی ؤ کېښود. بیا یې
یوه غټه تیږه د غار خولې ته راورغړوله. ۴۷ مریم مجدلیې او د یوشا مور مریم ولیدل چې د
عیسی مړی یې په کوم ځای کې ایښی دی.

## د عیسی بیا راژوندي کېدل

(متي ۲۸: ۱ – ۸ او لوقا ۲۴: ۱ – ۱۲ او یوحنا ۲۰: ۱ – ۱۰)

۱۶ ۱ کله چې د سبت ورځ تېره شوه، مریم مجدلیې او د یعقوب مور مریم او سالومې
خوشبویه تېل واخیستل، چې لاړ شي او د عیسی په مړي باندې یې واچوي. ۲ د یکشنبې په

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

ورځ سهار د لمر راختلو نه وروسته هغوی غار ته ورغلې. ٣ هغوی په خپلو کې یو بل ته وویل:
«مونږ ته به د غار د خولې څخه تیږه څوک ورغړوي؟» ٤ خو کله چې هغوی وکتل نو ویې
لیدل چې هغه تیږه چې ډېره غټه وه شاته رغړېدلې وه. ٥ کله چې هغوی غار ته ورننوتلې نو
هلته یې یو ځوان سړی ولید چې سپین کالي یې اغوستي وو او د قبر ښي خواته ناست ؤ. نو هغوی
ووېرېدلې. ٦ خو هغه ورته وویل: «مه وېرېږئ، زه پوهېږم چې تاسو ناصري عیسی لټوئ چې په
صلیب باندې ځوړند شوی ؤ. هغه دلته نشته، هغه راژوندی شوی دی. ګورئ، دا هغه ځای دی چې
د هغه مړی په کې ایښودل شوی ؤ. ٧ اوس لاړې شئ او د هغه شاګردانو او پطروس ته ووایئ
چې هغه ستاسو څخه مخکې جلیل ته روان دی. لکه څنګه چې هغه خپله تاسو ته ویلي وو، تاسو
به هغه هلته ووینئ.»

٨ هغوی د غار څخه راووتلې او وتښتېدلې، ځکه چې د ډېرې وېرې لړزېدلې او وارخطا شوې
وې. هغوی هیچا ته څه ونه ویل، ځکه چې وېرېدلې وې.

## عیسی مریم مجدلیې ته ښکاره کېږي

(متي ۲۸: ۹– ۱۰ او یوحنا ۲۰: ۱۱– ۱۸)

[ ٩ کله چې عیسی د یکشنبې په ورځ سهار وختي د مړو نه راژوندی شو نو لومړی مریم
مجدلیې ته چې هغه ورڅخه اووه پیریان ویستلي وو ښکاره شو. ١٠ هغه لاړه او څه چې پېښ
شوي وو هغه یې د عیسی نږدې ملګرو ته چې ویر او ژړاګانې یې کولې، وویل. ١١ کله چې
هغوی واورېدل چې عیسی ژوندی شوی دی او مریم لیدلی دی نو باور یې ورباندې ونه کړ.

## عیسی دوو شاګردانو ته ښکاره کېږي

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

(لوقا ۲۴: ۱۳ – ۳۵)

۱۲ له هغې وروسته عيسى په بله څېره کې خپلو دوو شاګردانو ته چې د اورشليم څخه کلي ته
روان وو، ښکاره شو. ۱۳ هغوی بېرته لاړل او نور شاګردان يې خبر کړل، خو هغوی يې په خبره
باندې باور ونه کړ.

## عيسى خپلو يوولسو شاګردانو ته ښکاره کېږي

(متي ۲۸: ۱۶ – ۲۰ او لوقا ۲۴: ۳۶ – ۴۹ او يوحنا ۲۰: ۱۹ – ۲۳ او د رسولانو عملونه ۱: ۶ – ۸)

۱۴ وروسته بيا عيسى خپل ځان يوولسو شاګردانو ته چې ډوډۍ ته ناست وو، ورښکاره کړ.
هغوی يې د بې ايمانۍ او سختو زړونو د لرلو په خاطر ورټل، ځکه چې هغوی د هغو خلکو په خبرو
يقين ونه کړ چې هغه يې د راژوندي کېدلو څخه وروسته ليدلی ؤ. ۱۵ نو هغوی ته يې وويل: «په
ټوله نړۍ کې وګرځئ او دا زېری ټولو ته ورسوئ. ۱۶ هرڅوک چې ايمان راوړي او د تعميد
غسل واخلي نو هغه به خلاصون ومومي، خو څوک چې ايمان رانه وړي نو هغه به محکوم کړای
شي. ۱۷ څوک چې ايمان راوړي نو هغوی ته به دا نښې ورکړل شي چې زما په نوم به پېريان
وباسي او په نويو ژبو به خبرې کوي، ۱۸ هغوی به ماران نيسي او که زهر وخوري نو زيان به
ورته نه رسيږي او کله چې په ناروغانو باندې خپل لاسونه ږدي نو هغوی به ښه کيږي.»

## اسمان ته د عيسى ختل

(لوقا ۲۴: ۵۰ – ۵۳ او د رسولانو عملونه ۱: ۹ – ۱۱)

۱۹ د هغوی سره د خبرو کولو نه وروسته ښښتن عيسى اسمان ته پورته يووړل شو او د خدای
ښي لاس ته کېنېناست. ۲۰ بيا شاګردان لاړل او په هرځای کې يې وعظ کاوه او ښښتن ورسره
مرسته کوله او د معجزو په ښودلو يې دا ثابته کړه چې د هغوی پيغام رښتينی دی.]

Copyrighted material from afghanbibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

تاسو پوښتني لرئ؟ +1 807.700.9066
afghanbibles.org © د ختيځ افغانستان ۲۰۲۱
Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.